فراگومن

# حقوقي لارښوونه

د امریکا په متحده ایالاتو کې په خپلو حقوقو
او مکلفیتونو باندې پوهاوی

FRAGOMEN

# کورپانه

بیمه

د کورنۍ موضوعات

د متحدو ایالاتو تابعیت

له خپلوانو سره یوځای کیدل

څوک کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي؟

د وضعیت بنستونه

رارسیدل او سفر کول

اسناد

قانوني حقونه او مسؤلیتونه

دنده



# د دايمي اوسيدلو لپاره بنسټونه



# متحده ایالاتو ته د دایمي اوسیدونکي یا LPR په توګه رارسیدل

- سفارت به تاسو ته ستاسو په پاسپورټ کې د مهاجرت ځانګړې ویزې (SIV) فویل درکړي.
  - دا فویل (ورقه) به په لومړي کال کې ستاسو د دایمي استوګنې ثبوت وي.




- متحده ایالاتو ته د رارسیدلو سره سم، تاسو به د متحده ایالاتو د سفارت لخوا صادر شوي د ویزې کڅوړه د ګمرکونو او سرحدي ګزمو مامور (CBP) ته تسلیم کړئ ترڅو هغوی تاسو داخل کړي.




- د ویزې کڅوړه به د پروسس لپاره د متحده ایالاتو د تابعیت او مهاجرت خدماتو (USCIS) ته واستول شي.




**د یو څو اونیو په ترڅ کې به د USCIS اداره ستاسو ګرین کارټ هغه آدرس ته واستوي چې تاسو ورته ورکړې وي.**



# اړينه نقطه: د خپلې پتې/آدرس بدلول

هر هغه وخت چې تاسو له يو ځای څخه بل ځای ته ځئ، تاسو **اړ ياست** چې د خپلې نوې پتې په اړه USCIS سره معلومات شريک کړئ.

- ترڅو چې تاسو د متحده ايالاتو تابعيت نه وي اخيستی، ستاسو د پتې د بدلون ثبتول **يوه قانوني اړتيا** ده.

د متحده ايالاتو حکومت ته د پتې د بدلون خبر نه ورکول پدې معنی کيدی شي چې تاسو خپل ګرين کارټ او يا نور مهم اسناد ترلاسه نکړئ.

- نوې پته بايد د تغير مکان څخه په ۱۰ ورځو کې دننه شريکه شي.

- تاسو کولی شئ خپله نوې پته په آنلاين شکل سره په لاندې بريښنايي لينک کې ثبت کړئ: https://egov.uscis.gov/coa.



# په متحده ایلاتو کې ستاسو د کډوالۍ حالت




- ستاسو د (LPR) حالت **پای ته نه رسیږي**. دا تاسو ته د عمر تر پایه پورې په متحده ایالاتو کې د هستوګنې او کار کولو اجازه درکوي.
- تاسو ته به امریکایي ګرین کارډ درکړل شي چې د ۱۰ کلونو لپاره به د اعتبار وړ وي، او حتی د همدغه کارډ د نیټې پای ته رسیدل ستاسو په حالت باندې اغیزه نه کوي.
- تاسو کولی شئ وروسته د امریکایي تابعیت غوره کړئ، مګر دا لازمي نه ده.

ځیني وخت خلک دایمي اوسیدونکو ته "د ګرین کارډ درلودونکي" او یا هم "کډوال" وایي.



# حقونو او مسؤلیتونو ته کتنه

## دایمي اوسیدلو او دندې کولو حقوق

- په متحده ایالاتو کې **د تل لپاره اوسیدل او کار کول**.
- د متحده ایالاتو **د ټولو قوانینو لخوا خوندي توب**.

## مسؤلیتونه

- په متحده ایالاتو کې دټولو قوانینو پیروي وکړئ، په شمول د:
  - د خپلو مالیاتو اسناد جوړول او تأدیه کول
  - د ځانګړو خدماتو لپاره نوم لیکنه کول (که اړتیا وي).

- تاسو باید د **ډیموکراتیک حکومت** ملاتړ وکړئ او په یاد ولرئ چې LPR یا ګرین کارت لرونکي نشي کولی په فدرالي، ایالتي یا محلي ټاکنو کې رایه ورکړي.



# دولتي مزایاوې

- متحده ایالاتو ته په رسیدلو سره د SIV درلودونکي **د بیلابیلو مزایاوو مستحق** دي
- کله چې تاسو خپل نوي کور کې میشت کیږئ تاسو ته ګڼ شمیر مرستې درکول کیږي چې په هغو **کې نغدې روپۍ**، **طبي مرستې**، او **خواړه** شامل دي.
- تاسو به همدا راز د انګلیسي ژبې د زده کړې او یا هم د دندې په موندلو کې مرسته ترلاسه کړئ.

ستاسو د **ځایی بیا میشتیدنې اداره** کولی شي تاسو سره ستاسو د مقصود ښار کې موجودو ګټو ته لاسرسي کې مرسته وکړي.


# د قانوني دايمي استوګنې له لاسه ورکول

که تاسو د قانون پیروي وکړئ او په متحده ایالاتو کې د پاتې کیدو لپاره اراده وښایاست، نو که تاسو وغواړئ کولی شئ د متحده ایالاتو دایمي اوسیدونکي شئ.

په ډیرو کمو حالاتو کې **دايمي استوګنه له منځه تللی شي**، مثلا که یو شخص لاندې مسایلو کې ښکېل وي ممکن دايمي استوګنه یا ګرین کارت له لاسه ورکړي:



**د جدي جرمونه مرتکب شي**



**د متحده ایالاتو څخه بهر د اوږدې مودې لپاره سفر وکړي**



**د متحده ایالاتو حکومت دا دلیل ورکړي چې حکومت فکر وکړي چې درغلی شوې ده**

# اسناد

# د ټولنيز امنيت شميرې او کارتونه يا سوشل کارت




- د ټولنيز امنيت شميره (SSN) يا سوشل کارت يو ځانګړی نهه عددي پيژندونکی دی چې هر هغه کس ته ورکول کيږي چې په متحده ايالاتو کې په قانوني توګې سره اوسيږي.
- SSNs د کارموندني، مالياتو، د ښوونځي کې د شموليت، ګټو، او ډيرى نورو هغو ځايونو لپاره کارول کيږي چې پکې نوم ليکنې ته اړتيا وي.
- کچيرته تاسو د SIV نوم ليکنې په وخت کې د SSN لپاره هم غوښتنه کړې وي، ستاسو کارډ به تاسو د ۳ اونيو په ترڅ کې په اتوماتيک شکل هغې پتې ته وليږدول شي چې تاسو ورته وړاندې کړې وه.
- کچيرته تاسو غوښتنه نه وي کړې، تاسو بايد د خپل LPR حالت له ثبوت سره خپل محلي ټولنيز امنيت اداري [(SSA)] دفتر ته ولاړ شئ او د ټولنيز امنيت کارټ يا سوشل کارټ د ترلاسه کولو لپاره غوښتنه وکړئ.

د ټولنيز امنيت شميره د کاغذي کارټ په بڼه ورکول کيږي او بايد په يوه خوندي ځای کې وساتل شي.

# د موټر چلولو جواز او پیژند پانه

دايمي اوسيدونکي يا LPRs په ټولو ۵۰ ایالتونو او واشنګټن DC کې د جواز یا دولتي عکس لرونکي پیژند پاڼي یا ID ترلاسه کولو لپاره واجد شرایط دي.

- هغه بالغ خلک چې کولی شي د موټر چلولو ازموینه په بریالی توګه ترسره کړي، کولی شي د موټرچلولو سند یا لایسنس ترلاسه کړي.
- ممکن تاسو د قوانینو د زده کولو لپاره یوه ښوونیز کورس ته اړتیا وموئ.
- هغه ماشومان او لویان چې موټر نه شي چلولی، کولی شي د ایالتي پیژند کارټ لپاره غوښتنه وکړي.
- د موټر چلولو جواز یا لایسنس مقرراررت په هر ایالت کې توپیر لري. د لایسنس ترلاسه کولو، د پیژند پاڼي غوښتنې او یا هم د موټر د ثبت کولو لپاره د خپل ایالتي د عراده جاتو څانګې (DMV) سره مشوره وکړئ.
- تاسو ممکن ډیر ژر د کورني الوتنې یا دولتي ودانیو ته د ننوتلو لپاره ډیر خوندي "ریښتیني پیژندپاڼې ID یا "REAL ID" ته اړتیا ولرئ.



# د عامو ستونزو حلول

**کچیرته زه خپل ګرین کارټ د میل/پسټ له لارې ترلاسه نکړم، څه باید وکړم؟**

کچیرته ستاسو ګرین کارټ تاسو ته صادر شوی وي مګر تاسو ته نه وي لیږدول شوی، ستاسو د بیا مېشتېدنې اجنسي کولای شي تاسو سره مرسته وکړي ترڅو د یو بل کارټ ترلاسه کولو لپاره د لګښت څخه پرته غوښتنه وکړی.

**کچیرته زما ګرین کارټ ویجاړ شي او یا زما څخه نادرکه شي، څه باید وکړم؟**

تاسو کولی شئ د اړتیا وړ اسنادو او فیسونو سره د دایمي اوسیدونکي کارټ بدلولو لپاره د I-90 غوښتنلیک ډک کړئ.

**په خپلو معلوماتو کې څنګه کولی شم خپل نوم او یا هم نورې نیمګړتیاوې سمې کړم؟**

پدې لینک کې تاسو کولی شئ د نیمګړتیاو سمولو یا خپل نوم بدلولو څرنګوالي په اړه نور معلومات زده کړئ. په ډیرو مواردو کې، تاسو اړتیا لرئ چې اضافي اسناد وسپارئ ترڅو ستاسو د بیوګرافیک معلوماتو دقت ثابت کړي.





# د متحده ایالاتو تابعیت

# د متحده ایالاتو تابعیت

- کچیرته تاسو غواړئ چې د متحده ایالاتو تبع وګرځئ تاسو کولی شئ د خپل ګرین کارټ د ترلاسه کولو څخه پینځه کاله وروسته د تابعیت غوښتنه وکړئ.
- د متحده ایالاتو اتباع کولی شي:

**د کډوالۍ اسنادو په نه ورکولو سره پیسې سپما کړي او خپل وخت وژغوري**

**ځینو ځانګړو مزایا لرونکو پروګرامونو او دندو ته لاسرسی پیدا کړي**

**کورنۍ د ګرین کارټ لپاره تمویل کړي او ماشومانو ته د متحده ایالاتو تابعیت ورکړي.**

**د متحده ایالاتو پاسپورټ ترلاسه کړي**

**رایه ورکړي او حتی په انتخاباتو کې ګډون وکړي**

- د متحده ایالاتو تبع کېدل ډیري مزایاوې لري خو اتباع ګرځېدل اختیاري دي.

# د متحده ایالاتو د تابعیت ترلاسه کولو لپاره اړتیاوې

## ۱۸ کاله عمر درلودل

## په متحده ایالاتو کې د ۵ کلونو لپاره په دوامداره توګه اوسیدل

په تیرو ۵ کلونو کې د **۳۰ میاشتو په موده** په متحده ایالاتو کې **په فزیکي شکل سره موجودیت**

- د ښو اخلاقو شخصیت درلودل
- د تاریخ او مدني علومو په ازموینه کې بریالي کیدل
- د انګلیسي ژبې په ابتدایي ازموینه کې بریالي کیدل ترڅو دا روښانه کړي چې تاسو لیک لوست او خبرې کولی شئ



# د متحده ایالاتو د تابعیت د ترلاسه کولو لپاره عملي مرحلې

- انګلیسي ژبه په ښه توګه زده کړئ او ویې کاروئ او بلآخره د تابعیت د آزمویني لپاره زده کړه ترلاسه کړئ. ډیری ځایونه شتون لري چې تاسو سره په وړیا توګه د چمتووالي ټولګي ترتیب کوي او یا هم په ډیر ټیټ فیس تاسو سره مرسته کوي ترڅو تمرین وکړئ او چمتوالی ونیسئ.



- ددې لپاره چې د تابعیت د غوښتنلیک چمتو کول اسانه کړئ تاسو باید د متحده ایالاتو ته د ننوتو سره سم ټولې نیټې په پام کې ونیسئ. تاسو باید همدا راز، هغه نیټې هم په پام کې ونیسئ چې تاسو پکې:
  - په یوه ځانګړي ځای کې اوسیدلي یاست.
  - کوم کارګمارونکي لپاره مو دنده ترسره کړې وي.
  - د متحده ایالاتو څخه مو بهر ته سفر کړی وي.





- د متحده ایالاتو د قوانینو څخه پیروي وکړئ ترڅو د داسې کړنو څخه ځان ژغورنه وکړئ چې د تابعیت ترلاسه کول متضرر کوي.



- د لازم فیس ورکولو او د حقوقي مرستې د ترلاسه کولو لپاره د پیسو سپما وکړئ.
- ډیری خلک د تابعیت د پروسس کولو د فورمو لپاره یو وکیل څخه مرسته اخلي.





# د کورنۍ موضوعات



# ستاسو اړوند یا وابسته افرادو د کهوالی حالت

- ستاسو خاوند/ مېرمن او کوچني ماشومان چې له تاسو سره سفر کوي، متحده ایالاتو ته د دایمي استوګنې لرونکو په توګه به داخل شي.
- هغوي به هم د SIV اصلي درلودونکي په څېر مشابه حقونه او مسؤولیتونه ولري.
- د بېلګې په ډول، ستاسو خاوند/ مېرمن کولی شي چې د خپلې خوښې هر کارفرما لپاره کار وکړي.
- ستاسو نارینه ماشومان به اړ وي چې اتلس کلنی ته په رسېدلو په 30 ورځو کې دننه د ځانګړي خدمت یا Selective Service لپاره ځان راجستر کړي.

# ماشومانو لپاره تابعیت

- په متحده ایالاتو کې هر زیږېدونکی ماشوم په اتومات ډول د متحده ایالاتو تبعه ګڼل کیږي.
- که تاسو یا ستاسو خاوند/ مېرمن د متحده ایالاتو تابعیت ترلاسه کړي، ستاسو کم عمره د دایمي استوګنې لرونکي یا LPR ماشومان چې ستاسو تر فزیکي او قانوني پاملرنې لاندې اوسیږي، په اتومات ډول د متحده ایالاتو تابعیت ترلاسه کوي.
- تاسو کولی شئ (خو اړ نه یاست) چې ستاسو له لارې تابعیت ترلاسه کوونکي ماشوم ته د تابعیت ثبوت لپاره غوښتنه وکړئ:
  - کولی شئ چې N-600 فورمه ډکه کړئ چې د تابعیت سند ترلاسه کړئ (1700 ډالر فیس)
  - د متحده ایالاتو پاسپورت لپاره د غوښتنلیک پوسیله د تابعیت سند ترلاسه کړئ (135 – 165 ډالره فیس)





# واده


د دایمي استوګني لرونکي یا LPR یا د متحده ایالاتو د تبعه په توګه، واده کول به ستاسو د کډوالۍ پر حیثیت اغېزه ونکړي.

که تاسو د افغانستان یا کوم بل هېواد له وګړي سره واده وکړئ، د ګرین کارډ له مخې متحده ایالاتو ته د خپلې مېرمنې/ خاوند راوستلو لپاره غوښتنه کولی شئ.

د ودونو ځینې ډولونه په متحده ایالاتو کې په رسمیت **نه** پېژندل کیږي، لکه:

- د وکالت له مخې ودونه – د واده په مراسمو کې فزیکي شتون اړین دی
- د یوه سړي څو ښځې یا تعدد زوجات

# طلاق



په متحده ایالاتو کې، ښځه یا خاوند دواړه کولی شي چې طلاق وغواړي. د قضاوت لپاره یې هېڅ ځانګړی لامل اړین نه دی.

- طلاق اخیستل به د خاوند/ مېرمنې پر ګرین کارډ یا د متحده ایالاتو د تابعیت غوښتلو پر وړتیا اغېزه ونکړي.
- د طلاق موضوع ګانې د ایالتونو په کچه اداره کیږي.
- په متحده ایالاتو کې، په عمومي ډول طلاق د کورنۍ یوه متخصص وکیل مرستې ته اړتیا لري.
- که چېرې طلاق اخیستونکي جوړه کوچني ماشومان ولري، فامیلي محکمه به د ماشومانو د ساتنې او مالي ملاتړ لپاره د شرایطو په ترتیبولو کې مرسته وکړي.
- د کډوالۍ دوسیو او راتلونکي واده لپاره د طلاق اسناد وساتئ.



# له خپلوانو سره بیرته یوځای کیدل



# د کورنۍ سره د بیرته یوځای کیدلو اختیارونه

- تاسو ممکن په دي اړه فکر وکړئ چې د خپلي کورنۍ نور غړي متحده ایالاتو ته راولئ ترڅو له تاسو سره ګډ ژوند وکړي.
- کله چې تاسو دایمي استوګني حالت (LPR) کې یاست، تاسو کولی شئ یو څو محدود خلک د ګرین کارټ لپاره تمویل/سپانسر کړئ.
- د والدینو، د واده لرونکو (متاهلو) اولادونو، او یا د خپلو وروڼو او خویندو لپاره د ګرین کارټ د تمویل/سپانسر کولو لپاره ستاسو تابعیت درلودل لازمي دی.
- تاسو ممکن د احتمالي لارې په توګه د بشردوستانه د اوسیدلو مؤقتي حالت غوره کړئ، مګر دا د پروسس د اوږدمهالۍ او ناڅرګندتیا سره مخ کیدلی شي.

# د کورنی پر بنسټ ګرین کارتونه (I– ۱۳۰)

## واجد شرایط خپلوان او د هغوی اړوند وختونه

**دايمي اوسيدونکي کولای شي د لاندې خلکو لپاره غوښتنه وکړي:**


- خاوند/میرمن او ۲۱ کلو څخه کم عمره غیر متاهل اولادونه ( د انتظار وخت ~۴ کاله)
- د ۲۱ کلونو څخه د ډیر عمر لرونکي غیرمتاهل اولادونه ( د انتظار وخت ~ ۸/۵ کاله)

**د متحده ایالاتو تبع کولی شي د لاندې خلکو لپاره غوښتنه وکړي:**

- والدين، میرمن/خاوند او د ۲۱ کلونو څخه د کم عمره غیرمتاهل اولادونه (فعلي)
- د ۲۱ کلونو څخه د ډیر عمر لرونکي غیر متاهل اولادونه (د انتظار وخت ~ ۹ کاله)
- متاهل (واده لرونکي) اولادونه (د انتظار وخت ~ ۱۵ کاله)
- د ۲۱ کاله څخه ډیر عمر لرونکي شخص ورور یا خور (د انتظار وخت ~ ۱۶/۵ کاله)



# د کورنۍ پر بنسټ پروسه



1. **LPR** یا د هغه کس لپاره د **متحده ایالاتو د تبع** حالت چې غوښتنلیک یې ثبتوي
2. د بهرني خپلوانو لپاره د I-130 غوښتنلیک چمتو کړئ او د I-130 فورمه او د کورنۍ اړیکې د معلومولو لپاره اړین اسناد وسپارئ.
3. د متحده ایالاتو حکومت د تصویب لپاره اقدام کوي. په ځینو برخو کې، حکومت ممکن پوښتنې وکړي یا یې رد کړي.
4. **هغه خپلوان چې منظور شوي غوښتنلیکونه لري باید ویزې ته انتظار وکړي** ترڅو ویزې د دوی په کټګورۍ کې موجودې شي.
5. د کورنۍ غړی د متحده ایالاتو په دننه یا بهر قونسلګرۍ کې بشپړوي.

ددغې پروسې په کامیابۍ سره بشپړیدل د شرایطو وړ خپلوانو ته ددې اجازه ورکوي چې متحده ایالاتو ته راشي او یا هم په متحده ایالاتو کې د دایمي اوسیدونکي په حیث ژوند وکړي. د ټولو هغو خلکو په شان چې ګرین کارتونه لري، دغه د کورنۍ غړي هم کولی شي چې په متحده ایالاتو کې پاتې شي او د امریکایي تبع لپاره نوم لیکنه وکړي او یا یې هم تر لاسه کړي.

# بشر دوستانه موقتي اوسيدل

- پارول (موقتي اوسيدل) د بیرني بشري یا عامه ګټو دلایلو پر بنسټ د ویزې پرته لنډمهاله قانوني ننوتلو ته اجازه ورکوي.
- پارول (موقتي اوسيدل) د پام وړ اسنادو ته اړتیا لري او د دایمي حالت لپاره لاره زمینه نه برابروي.

**بشر دوستانه موقتي اوسيدلو لپاره نوم لیکنه کول**

د غوښتونکي او ګټه اخيستونکي **د هويت اسناد**

شواهد:
- زيان يا د زيان خطر، د بيانونو په شمول
- د کورنۍ د اړيکو ثبوت

**I-134 فورم**

د مالي ملاتړ اعلاميه چې ستاسو د کورنۍ د غړو د مالي ملاتړ کولو وړتيا ښيي

**I-131 فورم**

د سفر د سند لپاره غوښتنليک ترڅو د موقتي اوسيدني لپاره غوښتنه وکړئ

**د ثبتولو فيس** او د مرستندويه مالي اسناد د مالي د اسناد په شمول

- د وروستی تایید لپاره د متحده ایالاتو له قونسلګرۍ سره په یو هیواد کې لیدو ته اړتیا، د روغتیا معاینه کول ، د قونسلګری مرکه او متحده ایالاتو ته له راتلو دمخه د ملي امنیت د ټولو معایناتو څخه تیریدل.

USCIS د LPR او SIV د کورنۍ غړي د بشردوستانه پیرول (مؤقتي اوسیدلو) لپاره قوي مثبت فکتورونه ګڼي، مګر د پروسس وخت د ۲ کلونو څخه زیات وخت نیسي.

# رارسیدل او سفر کول

# د LPR یا دایمي اوسیدونکي په توګه بین المللي سفر کول

تاسو اړ یاست چې ډیری نورو هیوادونو ته د ننوتلو لپاره یو معتبر پاسپورت له ځانه سره ولرئ.

د ګرین کارټ درلودونکي نشي کولی د متحده ایالاتو پاسپورټ ترلاسه کړي – یوازې امریکایي اتباع یې کولی شي.

نورو هیوادونو ته د سفر کولو لپاره تاسو مجبور یاست ترڅو مناسبې ویزې ترلاسه کړئ.

تاسو کولی شئ بیرته امریکا ته د ګرین کارټ په واسطه داخل شئ.

خپل سفرونه تعقیب کړئ او د متحده ایالاتو څخه په یوه سفر کې د ۶ میاشتو څخه له ډیر پاتې کیدلو څخه ډډه وکړئ.



# افغانستان ته سفر کول





- **افغانستان ته سفر کول یو خطرناک کار دی** مګر په مستقیم ډول منع شوی نه دی.
- د سفر خطرونو څخه باخبر اوسئ او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د سفر مشورې ځانګې سره مشوره وکړئ.
- که تاسو د دا ډول سفر اراده لرئ باید د کډوالۍ له وکیل سره اړیکه ونیسئ.
- متحده ایالات محدودې سرچینې لري ترڅو تاسو سره په هغه وخت کې مرسته وکړي چې تاسو افغانستان ته سفر وکړئ او له کومې ستونزې سره مخ شئ.
- کچیرته تاسو افغانستان ته د سفر کولو هوډ وکړئ، مهرباني وکړئ د خوندي پاتې کیدو لپاره احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسئ.

# قانوني حقونه او مسؤولیتونه

# په متحده ایالاتو کې تاسو حق لرئ چې

له خپل ګرین کارډ سره هره هغه دنده ترسره کړئ چې پر شرایطو یې پوره یاست یا ورته ګومارل شوي یاست

د اوسېدو لپاره **یو ځای په کرایه ونیسئ** او که چېرې وغواړئ بالاخره خپل کور واخلئ

کله چې د متحده ایالاتو له هغه ایالت څخه چې تاسو پکې اوسېږئ، د موټر چلولو لایسنس/ اجازه لیک ترلاسه کړئ، **موټر وچلوئ**

**په خپل نوي کور کې د بیا ځای پر ځای کېدنې په برخه کې مرستې لپاره ګټو ته لاسرسی ولرئ**

د عامه ښوونځیو او کتابتونونو په څېر **د ټولنې منابعو ته لاسرسی ولرئ**

**د متحده ایالاتو د ټولو قوانینو پوسیله خوندي اوسئ**



# هغه کارونه چې باید ترسره یې کړئ یا یې ترسره نه کړئ

**هغه کارونه چې باید ترسره یې کړئ**

- د ټولو قوانینو درناوی وکړئ.
- د رفتار په حد کې **په پام سره موټر وچلوئ.**
- د ایالت د خوندیتوب لاربود مطابق **د څوکیو پټی/ سیټ بېلټ** او کوچنیو ماشومانو لپاره **د ماشومانو څوکۍ** وکاروئ.
- د USCIS له اداري سره **خپل ادرس اپډیټ وساتئ.**
- **خپلې مالیې تحویل کړئ.**

**هغه کارونه چې باید ترسره یې نه کړئ**

X د متحده ایالاتو قانون مه ماتوئ. تاسو د ځینو جرمونو له امله له دې هېواده له دېپورټ کېدو سره مخ کېدلی شئ!

X له لایسنس درلودلو پرته یا د نشې په حالت کې موټر مه چلوئ.

X هېڅ ډول نشه راوړنکي مواد مه کاروئ.

X کورنۍ تاوتریخوالی یا تېری مه کوئ.

X د امریکا په متحده ایالاتو کې رائیه مه کاروئ، د هویت جعلي اسناد مه کاروئ او هېڅکله ځان د امریکا تابعیت لرونکی مه معرفي کوئ.



# د قانون درناوی کول

- فدرالي قوانین په هېواد کې پر هر چا د تطبیق وړ دي.
- ایالتي قوانین ډېر توپیر لري.
- تاسو باید د فدرالي او ایالتي قوانینو د تعقیبولو لپاره پلان ولرئ، که نه نو ښایي له جدي پایلو سره مخ شئ.

**نیونې او سرغړونې:**

- نیول کېدل ښایي ستاسو د ګرین کارډ پر بیا نوي کولو یا تابعیت اخیستلو منفي اغېزه وکړي.
- ځینې جرمونه ښېنل کیږي، خو دغه خطر مه قبلوئ.
- آن ځینې ترافیکي سرغړونې هم د کډوالۍ په برخه کې ستونزې رامنځته کولی شي (لکه، د نشې په حالت کې موټر چلول، بې احتیاطه موټر چلول چې د نورو د ټپي کېدلو لامل کیږي، ځوک پر موټر وهل او تښتېدل، او نور).
- که چیرې ستاسو په ریکارډ کې له قانون څخه سرغړونې موجودې وي، مخکې له دې چې د کډوالۍ مزایاوو غوښتنه وکړئ، له یو قانوني وکیل سره خبره وکړئ.

# مسؤولیت: ځانګړی خدمت Selective Services

که تاسو ۱۸-۲۵ کلن نارینه یاست، تاسو باید د ځانګړي خدمت سیستم سره راجستر شئ.

- ځانګړی خدمت یا Selective Services یو لست دی چې د متحده ایالاتو حکومت یې د جنګ یا اضطراري حالت لپاره د پوځي خدمت د عمر درلودونکو نارینه وو لپاره ساتي.
- ځانګړی خدمت په دې مانا نه دی چې راجستر کېدونکی شخص به په اتومات ډول د پوځ برخه ګرځي. دا د راتلونکي احتمالي پوځي جلب لپاره په لست کې یو شخص اضافه کوي.
- په راجستر کېدلو سره یې د نورو مزایاوو تر څنګ، د فدرالي دندو، کالج لپاره پورونو او مالي کومکونو، امنیتي تذکیو او د **متحده ایالاتو تابعیت** لپاره ستاسو حقوق ساتل کېږی.
- نه راجستر کېدنه یو جرم دی چې تر 250,000 ډالرو او پنځه کاله قید سزا لامل کیدلی شي.
- ځانګړي خدمت لپاره راجستر کېدنه په انلاین بڼه په دې پته https://www.sss.gov/register/ اسانه ده.

د دایمي استوګنې لرونکي یا LPRs چې رواني انګلیسي خبرې کولی شي، په داوطلبانه ډول د متحده ایالاتو په پوځ کې په لست کې ځان داخلولی شي.






# حق او مسؤولیت: زده کړه

- په متحده ایالاتو کې ټولو ماشومانو لپاره له وړکتون (5 کلنۍ) څخه تر 12 ټولګي پورې عامه زده کړه موجوده او وړیا ده.
  - په ځینو ټولنو کې له 5 کلنۍ څخه کم عمره ماشومانو لپاره له ښوونځي مخکې ټولګي هم موجود دي.
- ماشومانو لپاره ښوونځي ته حاضرېدل جبري دي.
- بالغ وګړي کولی شي چې د رسمي او نارسمي ټولګیو او تعلیمي پروګرامونو له لارې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.
- کالج، د ټولنې کالج یا پوهنتون ته حاضرېدل ښایي یو اختیار وي. په متحده ایالاتو کې په کالج کې زده کړې ښایي ډېر لګښت ولري، خو له زده کوونکو سره مالي مرسته ښایي موجوده وي.
- د سواد یا انګلیسي زده کړې وړیا یا لږ لګښت درلودونکي ټولګي ښایي د محلي کتابتون یا د ټولنو له لارې د لاسرسي وړ وي.

دنده



# کار لپاره چمتو یاست

- د دایمي استوګنې لرونکي یا LPRs کولی شي چې د خپل قانوني وضعیت پر بنسټ په متحده ایالاتو کې کار وکړي.
- تاسو کوم جلا سند ته اړتیا **نه** لرئ، لکه د دندې د اجازې سند یا (EAD) : **ستاسو ګرین کارډ کافي دی.**
- یو کارفرما کولی شي چې په متحده ایالاتو کې ستاسو له لومړی ورځې څخه تاسو وګماري.

تاسو کولی شئ چې له نورو اضافي اسنادو پرته کار وکړئ.

# د I-9 فورمې ډکول

- I-9 فورمه په متحده ايالاتو کې د کارکوونکو د هؤيت او د کار اجازې د تصديق لپاره کارول کيږي.
- کله چې تاسو يوه دنده ترلاسه کړئ، تاسو به اړ ياست چې **يوه I-9 فورمه ډکه کړئ څو وښاياست چې تاسو په متحده ايالاتو کې په قانوني ډول کار کولی شئ.**
- کارفرما او کارکوونکی د فورمې ډکولو لپاره ګډ کار کوي.
- مخکې له دې چې تاسو ګرين کارډ ترلاسه کړئ، ستاسو د داخلېدلو مهر/ foil به د دې ښودنې لپاره کافي وي چې تاسو په متحده ايالاتو کې په قانوني ډول کار کولی شئ.
- ستاسو ګرين کارډ ښودل به کافي وي څو وښيي چې تاسو کار کولی شئ.



# د کار نورې ملاحظې





- هر کله چې وغواړئ، خپلې دندې بدلولی شئ او په عمومي ډول هر چا لپاره چې وغواړئ کار کولی شئ.
- ځینې مسلکونه په متحده ایالاتو کې مسلکي جوازونو ته اړتیا لري چې ښایي اضافي روزنه او زده کړه وغواړي، آن که تاسو په افغانستان کې په نوموړي مسلک کې کار هم ترسره کړی وي.
- هغه مسلکونه چې یو جواز ته پکې اړتیا موجوده ده، ډاکتران، نرسان، قانونپوهان، د برېښنا ماهرین، د ماشوم پاملرنې کارکوونکي، د سینګار ماهرین، تعمیراتي قراردادیان او نور پکې ګډون لري.
- همدا راز ډېرې داسې دندې موجودې دي چې کوم ځانګړي شرایط او معیارونه نه لري.
- تاسو کولی شئ داسې یوه دنده پیل کړئ چې کومو ځانګړو مهارتونو ته پکې اړتیا نه وي په داسې حال کې چې په یوه برخه کې د مسلکي جواز په ترلاسه کولو هم کار کوئ.



# د دندې خوندیتوبونه

- په عمومي ډول، کارفرما ته اجازه نشته چې تاسو یوازې د کډوالۍ د حیثیت پر بنسټ استخدام کړي یا مو رد کړي.
  - ډېر کم، مشخصې دندې – په عمومي ډول دولتي یا غیر دولتي قراردادیان – یوازې د متحده ایالاتو تابعیت لرونکو لپاره ځانګړې وي.
- تاسو همدا راز د نورو ځانګړتیاوو، لکه عمر، معیوبیت، ازدواجي/مدني حالت، نژاد، ملیت، قوم، مذهب، جنسیت، جنس یا جنسي تمایل، او نورو پر بنسټ تبعیض څخه هم خوندي یاست.
- همدا راز تاسو د یوه خوندي کارځای او ښه کاري چاپېریال درلودلو حق هم لرئ.



# معاش ترلاسه کول

تاسو د هغه کار په بدل کې د معاش ترلاسه کولو حق لرئ چې د کارفرما لپاره یې ترسره کوئ.

- متحده ایالات د حداقل معاش/ مزدوری کچه ترتیب کړې ده چې تاسو ته یې باید اداینه وشي.
- تاسو په عمومي ډول یو لیکلی قرارداد یا لیک ترلاسه کوئ چې تاسو ته د معاش ډول او د بیمې او تقاعد په څېر نورې مزایاوې پکې تشریح شوي وي.
- کله چې یوه نوې دنده پیلوئ، پر دې بحث وکړئ چې مالیې به څه ډول ادا کیږي. ځینې وخت به ستاسو فدرالي او ایالتي مالیې ستاسو د کارفرما له لورې تحویل شي (W-2).
- که چېرې تاسو یو خپلواک قراردادي یاست، تاسو به په جلا ډول د خپلو مالیو تحویلولو مسؤولیت ولرئ (1099).

# د ماليو تحويلول

**په متحده ایالاتو کې هر څوک باید د خپل عاید مالیې تحویل کړي.**

- د تېر کال د عاید مالیې باید د اپریل تر 15مې تحویل شي.
- ډېر خلک اړ دي چې د مالیې یو فدرالي او ایالتي سند چمتو کړي.
- کله چې د مالیو تحویلولو وخت راورسیږي، تاسو به د خپل کارفرما له لورې ستاسو د معاشونو اړوند اسناد ترلاسه کړئ.
- تاسو کولی شئ چې ډېری مهال د مالیو تحویلولو لپاره وړیا یا کم لګښت درلودونکې مرسته ومومئ یا یوه انلاین وسیله وکاروئ.

! د مالیو نه ورکړه د جریمو او آن د جنايي جرمونو له ډلې ګڼل کیدای شي.



# بیمه



# مسؤولیتونه: بیمه

- په متحده ایالاتو کې بیمه مهمه ده.
- تاسو له خطرونو او مالي تاوانونو څخه د خوندي پاتې کېدلو په موخه د بیمې لپاره اداینه کوئ.
- د بیمې ډولونه:

**کور درلودونکي یا کرایه کوونکي**

**موټر**

**صحي**

# صحي بیمه

صحي بیمه تاسو له ګرانبیه طبي لګښتونو څخه ژغوري ځکه چې روغتیایي خدمات وړیا نه دي.

- په متحده ایالاتو کې **صحي بیمه مهمه ده ځکه چې طبي لګښتونه لوړ دي.**
- تاسو او ستاسو کورنۍ ښایي د بیا مېشتېدنې د مزایاوو د برخې په توګه لومړنۍ وړیا صحي پوښښ لپاره مستحق واوسېږئ. ستاسو د بیا مېشتونې اېجنسي په دې برخه کې درسره مرسته کولی شي.
- ستاسو دنده ښایي ستاسو د کار په مزایاوو کې صحي بیمه درته وړاندې کړي او ستاسو له معاش څخه يې لګښت وګرځوي.
- که چېرې ستاسو کارفرما صحي بیمه درته وړاندې نه کړي، تاسو ښایي وتوانېږئ چې د صحي بیمې یو پلان ترلاسه کړئ چې [د متحده ایالاتو په بازار] کې درته کار وکړي.
- تاسو همدا راز باید د سترګو او غاښونو لپاره هم له خپلې اصلي صحي بیمې څخه جلا پلانونه ترلاسه کړئ.









# د موټر بیمه

- که تاسو په متحده ایالاتو کې موټر لرئ یا یې چلوئ، تاسو اړ یاست چې بیمه شئ.
- که څوک غواړي چې موټر وچلوي، که څه هم موټر د بل شخص اړوند وي، ټول موټر چلوونکي باید بیمه شوي وي.
- د یوې حادثې یا ټکر په صورت کې، نه بیمه شوی موټر چلوونکی په شخصي ډول د طبي لګښتونو په ګډون له ټکر سره مل د ټولو لګښتونو مسؤول دی.
- له بیمې پرته موټر چلول ښايي ستاسو د ایالت د قانون مطابق جریمې ولري.

# د کور/ کرايې بیمه

د خپل کور یا ملکیتونو بیمه کول له غیر متوقع لګښتونو یا اضطراري حالتونو څخه د خوندیتوب په برخه کې مرسته کوي.

- که تاسو استوګنځی په کرایه نیولی وي، د کرایه کوونکي بیمه کولی شي چې ستاسو اړوند اسباب خوندي کړي او د هغه زیان لامله اداینه له منځه یوسي چې ستاسو د تېروتنې لامله رامنځته شوی وي.
- د کرایه کوونکي بیمه ارزانه ده او په دې ارزي چې ماغزه مو ارام وي.
- که تاسو څه وخت یو کور واخلئ، ستاسو بانک به د احتمال له مخې د کور خاوند بیمه ساتلو شرط ولري څو پیسې په پور درکړي.
- آن کله چې په بشپړ ډول د یو ملکیت خاوند شئ، د کور خاوند بیمه لا هم ګټوره ده.





# څوک کولی شي تاسو سره مرسته وکړي؟

# د متحده ایالاتو دولتي اداري چې باید ویې پیژنئ

## د کورنیو عایداتو خدماتي څانګه

- مالیات راټولوي
- د مالیاتو قوانین پلي کوي
- د شخصي مالیاتو ریکارډونو ته لاسرسی چمتو کوي
- د خزانې ریاست برخه

## د روغتیا او بشري خدماتو ریاست

- د ټولنیز امنیت اداره (SSA)
- د ټولنیز امنیت کارتونه صادروي او بیلابیلي مزایاوي اداره کوي
- د کډوالو د بیا میشتیدنی دفتر (ORR)
- د بیا میشتیدني ادارو سره په ملګرتیا کې د SIV بیا میشتیدني مزایاوې اداره کوي

## د ملي امنیت ریاست

- د متحده ایالاتو د تابعیت او مهاجرت خدمتونه (USCIS)
- د مهاجرت مزایاوې اداره کوي
- د ګمرکونو او سرحدونو ساتنه (CBP)
  په هوایي ډګرونو او سرحدونو کې د اشخاصو تفتیش / داخلول مسؤلیت لري
- د کډوالۍ او ګمرکونو پلي کول (ICE)
  په ټول هیواد کې د مهاجرت قوانین پلي کوي

## د بهرنیو چارو وزارت

- د قونسلګرۍ د چارو اداره:
  - سفارتونه او قونسلګرۍ اداره کوي
  - د متحده ایالاتو اتباعو او LPRs سره بهر ته د سفر کولو کې مرسته کوي
  - د سفر مشورې، د متحده ایالاتونو پاسپورتونه او ویزې صادروي
  - د نفوس، کډوالۍ او مهاجرت اداره (PRM)
  - د متحده ایالاتو د کډوالو پروګرام او بشردوستانه پالیسي او ډیپلوماسی همغږي کوي

# د ناسمو معلوماتو څخه ځان ژغورنه

د مهاجرت قانون پیچلی دی. **تاسو باید د هغو خلکو څخه د کډوالۍ مشوره وانخلئ چې د دې مشورې ورکولو وړتیا ونه لري.**

- له بده مرغه، متحده ایالاتو ته د مهاجرت په اړه ډیری غلط معلومات او ګنګوسې شتون لري چې کولی شي د ګډوډۍ لامل شي.
- د ګډوډۍ او پیچلتیا څخه د مخنیوي لپاره، تاسو باید په ټوله کې د کډوالۍ مشوره د لاندې منابعو څخه ونه منئ:
- په دري او یا هم پښتو ژبه مطبوعاتي راپورونه
- ملګري او کورنۍ
- آنلاین ګروپونه یا ټولنې لکه په فیسبوک کې ګروپونه
- مخکې له دې چې د کډوالۍ په برخه کې کوم ګام پورته کړئ، که تاسو د معلوماتو د اعتبار په اړه کومه پوښتنه لرئ او یا دا چې آیا دا په تاسو باندې تطبیق کیږي او که نه، نو له همدې کبله، دا غوره ده چې د یو وړ قانوني مسلکي شخص سره مشوره وکړئ.



# د حقوقي مشورې لپاره باید په چا باندې اعتماد وکړئ

- که تاسو د کډوالۍ مرستې یا مشورې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د لاندې خلکو څخه پوښتنه وکړئ:
  - ستاسو د ځايي بیا میشتیدنې اداره،
  - د مهاجرت څارنوال او/یا
  - قانوني غیر انتفاعي سازمان چې د کډوالۍ خدمتونه وړاندې کوي.
- تاسو ممکن د مختلفو قانوني مسلو لپاره د نورو ډولونو وکیلانو سره مشوره وکړئ.

**لګښت په پام کې نیول:**

- مخکې له مخکې د فیسونو او تأدیه کولو د اختیارونو په اړه پوښتنه وکړئ او په لیکلې بڼه د حقوقي خدمتونو د قیمتونو په اړه یو تفاهم ته ورسیږئ.
- ځینې وکیلان او سازمانونه د کډوالۍ حقوقي خدمات په وړیا ډول او یا هم په ډیر ټیټ قیمت سره وړاندې کوي. هغوی دا قیمت معمولا ستاسو د عائید ته په کتو سره انتخابوي.



# د کډوالۍ د وکیلانو پیدا کول

کچیرته غواړئ چې د مهاجرت اړوند مناسبه مرسته ترلاسه کړئ، تاسو کولی شئ د لاندې لینکونو څخه د یوه ښه پیل په توګه کار واخلئ:



- زمونږ ټیم کولی شي تاسو سره مرسته وکړي: AfghanHelp@fragomen.com.
- د امریکا د مهاجرت وکیلانو ټولنه (AILA) تاسو ته زمینه برابروي ترڅو د AILA غړي وکیلانو غړي ولټوي ترڅو ستاسو د ځانګړي حالت لپاره د حقوقي استازيتوب لپاره د اړتیا تون وکړئ. ټول لیست شوي وکیلان اوس مهال د AILA غړي معتبر وکیلان دي.
- د مهاجرت د بررسۍ اجراییوي دفتر د ورځنیو او تیت لګښت قانوني خدماتو چمتو کونکو لیست لري چې تاسو یې د دولت لخوا لټون کولی شئ. په دې خدماتو کې غیر انتفاعي او خیریه حقوقي خدمت چمتو کونکي شامل دي، په شمول د مهاجرت قانون او عدالت شبکه.
- د مهاجرت مدافع شبکه د ورځنیو یا تیت لګښت مهاجرت قانوني خدماتو لیست لري.


FRAGOMEN
فراگومن
مننه او ښه
راغلاست
Thank you
and welcome
تشکرو
خوش آمدید

د حقوقي لاربښووني سيمنار ته ښه راغلاست.
د مهاجرت قانون ممکن مغشوش کوونکی واوسي او ممکن د مهاجرت د قانونو په اړه ناسم معلومات شتون ولري. په دې پريزينټيشن کې به د ځينو داسي موضوعاتو په اړه بحث وشي چې تاسو  سره به په متحده آيالاتو کې د خپل حالت د درک کولو کې مرسته وکړي. همدا راز، کچيرته اړتيا وي، ترڅو په راتلونکي کې نورې حقوقي مرستې ترلاسه کړئ.

ددغې ناستې په پايله کې دا اړينه نده چې تاسو د کډوالو يو متخصص شئ. ستاسو د بيامیشته کيدلو په لومړيو مرحلو کې داسي خلک شته چې تاسو سره مرسته وکړي. همدا راز، تاسو کولی شئ چې ورروسته له وکيلانو  او يا نورو متخصصينو څخه حقوقي مرستې ترلاسه کړئ.
مګر مونږ غواړو چې تاسو د خپل ځان پوهاوي لپاره اړين اصطلاحات او چارچوکاټ ولرئ.

# Slide 2

دا کورپاڼه ده. دا پاڼه د موضوعاتو پر بنسټ ترتیب شوې ده چې له تاسو سره به د ددغه پریزنټیشن د بریښنايي نسخې په پیداکولو کې ورووسته مرسته وکړي. تاسو کولی شئ له دې پاڼې څخه هغو برخو ته لاړ شئ چیرته چې تاسو غواړئ نور اړوند معلومات ترلاسه کړئ. تاسو کولی شئ چې د کورپاڼې نښه چې د هرې پاڼې په پورتنۍ برخه کې ځای لري، کیکاږئ (کلیک کړئ) ترڅو اصلي کورپاڼې ته راستانه شئ.

# Slide 4

د متحده ایالاتو سفارت ستاسو په پاسپورټ کې د ماشین لوستلو وړ د مهاجرو ویزه (MRIV) صادره کړې دی. دې ورقې ته فویل هم ویل کیږي. دا د ویزې ورقه تر یوه کال پورې ستاسو د دایمي اوسیدونکي حالت ثبوت په توګه کار کوي یا تر هغه چې تاسو په میل کې خپل ګرین کارټ ترلاسه کړئ. د ویزې دغه فویل لاندې عبارت له ځانه سره لري: **"د ۱ کال لپاره د I-551 لنډمهاله دایمي اوسیدونکي په توګه کار کوي."** دا کال د هغې ورځې څخه پیل کیږي په کومه ورځ چې تاسو متحده ایالاتو ته ننوتي یاست.

کله چې تاسو خپل ګرین کارټ ترلاسه کړئ ، تاسو کولی شئ د ویزې د ورقې پرځای هغه وکاروئ. یو ګرین کارټ ستاسو د ننوتلو نیټې څخه تر لسو کلونو لپاره د اعتبار نیټه لري ، مګر تاسو کولی شئ د اعتبار د نیټې پای ته رسیدو څخه وروسته یو نوی ګرین کارټ ترلاسه کړئ.

د ګرین کارټ د ترلاسه کولو لپاره د پروسس وخت: له ۳ څخه تر ۴ اونیو پورې دی (وروستي ځندونه ۹۰ ورځې یا ډیره ده).

د ۶ میاشتو او یا ډیر ځنډ په صورت کې، د دې لینک په کارولو سره USCISسره اړیکه ونیسئ: https://egov.uscis.gov/e-request/. :

کچیرته تاسو ګرین کارټ پخپله نیټه ترلاسه نکړئ، تاسو کولی شئ د ګرین کارټ پرځای په خپل پاسپورټ کې د I-551 ټاپې لپاره غوښتنه وکړئ. په دې لینک د ملاقات لپاره غوښتنه وکړئ: https://my.uscis.gov/en/appointment/v2.

ممکن تاسو کله نا کله د I-94 ریکارډ په اړه ځینې شخصي تبصرې واورئ. I-94 ریکارډ متحده ایالاتو ته د ننوتلو سند دی.د I-94 ریکارډ معمولا د دایمي اوسیدونکو لپاره نه تصوییبیري تاسو به دا ونلرئ او اړتیا به مو هم ورته پیدا نشي. کچیرته له تاسو څخه څوک د I-94 ریکارډ غوښتنه وکړي، تاسو کولی شئ خپل پاسپورټ ورته وښایاست او هغوی ته ووایئ چې تاسو I-94 ریکارډ ته اړتیا نلرئ ځکه چې تاسو دایمي اوسیدونکي یاست.

هغه ځه چې تاسو یې باید ولرئ او هغه چې ډیره اړینه ده هغه داده چې USCIS ستاسو سمه او بشپړه پته ولري. کچیرته تاسو پدې پوهیږئ چې ستاسو هغه پته (ادرس) چې تاسو د متحده ایالاتو سفارت ته ورکړئ بدلون مومي، کله چې تاسو متحده ایالاتو ته داخل شئ خپله نوې پته (ادرس) د CBP افسر سره شریکه کړئ. دا هغه پته ده چیرته چې به ستاسو ګرین کارټ میل/ولیږدول شي، نو له همدې امله ددغه ادرس سموالی ډیر اړین دی.

د آنلاین میتود په کارولو سره د پتې بدلولو ثبت کول ترتیولو اسانه او ګړندي لاره ده. تاسو کولی شئ آنلاین **AR-11** فورمه هم چاپ کړئ او د کاغذ بشپړ شوې فورمه دې آدرس ته واستوئ:

**U.S. Department of Homeland Security**

**Citizenship and Immigration Services**

**Attn: Change of Address**

**1344 Pleasants Drive**

**Harrisonburg, VA 22801**

تاسو کولی شئ خپله پته د خپل USCIS آنلاین اکاونټ/حساب له لارې بدل کړئ. تاسو کولی شئ په دغې بریښنایي پاڼه کې یو اکاونټ/حساب جوړ کړئ: https://my.uscis.gov/.

# Slide 6

تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي به متحده ایالاتو ته د دایمي اوسیدونکو په توګه ننوځئ. دا په دې مانا سره دی چې تاسو به وکولای شئ چې په امریکا کې د تل لپاره واوسیږئ او کار وکړئ، چې ددې په اړه به هم مونږ به بحث وکړو.

که څه هم تاسو ګرین کارټ د کډوالي ځانګړې ویزې (SIV) له لارې تر لاسه کړی؛ تاسو د هغه چا په څیر ورته حالت لرئ (دایمي اوسیدونکی یاست) چې د کورنۍ یا دندې له لارې یې ګرین کارټ تر لاسه کړی وي. ستاسو د ګرین کارټ په کټګورۍ کې یو کوډ شتون لري چې د SQ یا SI سره پیل کیږي چې دا معلوموي چې تاسو د SIV له لارې متحده ایالاتو ته داخل شوي یاست.

په متحده ایالاتو کې ډیری افغانان اړ دي ترڅو د خپل حالت د تازه ساتلو لپاره ګڼ فایلونه جوړ کړي، خو تاسو به دی کار ته اړتیا ونلرئ. نور افغانان ښایي دمخه د پناه غوښتنې (اسایلم) او یا هم د موقتي اوسیدلو حالت ولري او یا یې په لټه کې وي. تاسو دغو حالتونو څخه هم مستثنی یاست.
تاسو نورو اضافه فایلونو (اسنادو) ته اړتیا نلرئ ترڅو خپل حالت په متحده ایالاتو کې بشپړ کړئ، البته کچیرته تاسو وغواړئ، تاسو کولی شي د متحده ایالاتو تبع وګرځئ. تاسو اړ نه یاست ترڅو د امریکا تبع وګرځئ.

تاسو به یو ګرین کارټ د پای له نیټې سره تر لاسه کړئ. حتی دغه د پای نیټه هم په دې مانا نده چې ستاسو حالت به پای ته ورسیږي. د ځینو عملي موخو لپاره تاسو اړتیا لرئ ترڅو خپل کارټ نوی کړئ (لکه دا ښودل چې تاسو کار کولی شئ یا سفر کولی شئ) . مګر ستاسو حالت د یو دایمي اوسیدونکي په توګه د کارټ د پای ته رسیدلو څخه وروسته به هم پخپل حال وي.

# Slide 7

مونږ به په لوړه کچه د ځينو بنسټيزو حقونو او مسؤليتونو په اړه خبرې وکړو.

مونږ به ددې هر يو په اړه په تفصيل سره خبرې وکړو، مګر کليدي او اړين حقونه په لاندي ډول سره دي:
(۱) په متحده ايالاتو کې تر هغه وخته پورې چې تاسو غواړئ ژوند کول، (۲) د خپلې خوښې په برخه کې دنده ترسره کول (په دې شرط چې تاسو ټول اړين اسناد ولرئ)، (۳) او په متحده ايالاتو کې ستاسو د هستوګنې د ځای د قانون سره سم خونديتوب ترلاسه کول

له بلې خوا، حکومت څلور اصلي مسؤليتونه تاسو ته په ګوته کوي:

- د قانون مراعت کول (پيروي کول). په متحده ايالاتو کې جرمونه مه ترسره کوئ.
- ايالتي او فدرالي حکومت ته د مالياتو اسناد جوړول او ماليې تأديه کول.
- د "ځانګړي خدمت" لپاره نوم ليکنه کول؛ دا فقط د ۱۸ او ۲۵ کلونو ترمنځ نارينه وو باندې د تطبيق وړ ده.
- د ډموکراسۍ ملاتړ کول. تاسو تراوسه رائيه نشئ کارولئ. يواځې امريکايي اتباع کولی شي رائيه ورکړي.

موږ تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي دې ته هڅوو چې د ټولو شته امکاناتو څخه ګټه پورته کړئ ترڅو تاسو سره د یوه ښه پیل لپاره مرسته وکړي.

باید په پام کې مو وي چې د حکومت ګټې او د بیا میشتیدنې اداروي مرستې یوازې په پیل کې او د محدود وخت لپاره شتون لري.

ستاسو د بیا میشتیدنې اداره یوه مهمه سرچینه ده چې تاسو سره په متحده ایالاتو کې ستاسو د نوي ژوند په پیلولو کې مرسته کوي او په دې به پوهیږي چې ستاسو په سیمه کې څه پلي کیږي. مختلف ایالتونه او ځینې وختونه حتی په یو ایالت کې مختلف ښارونه ممکن مختلفې ګټې او ګزینې وړاندې کړي. په دغو مرستو کې توپیر په متحده ایالاتو کې له یو ایالت څخه بل ایالت ته عام دی. دا پدې مانا ده چې ممکن په اریزونا، ټیکساس او یا هم ورجینیا کې میشت SIVs مختلفې تجربې ولري.

# Slide 9

مورږ وويل چې د LPR حالت دايمي دى يعنى د ټول عمر لپاره دى، او پاى ته نه رسيږي. مګر آيا تاسو کولى شئ خپل د دايمي استوګنې حالت له لاسه ورکړئ؟

هو، مګر ډيره کمه او په نادره کچه. د دايمي استوګنې له لاسه ورکولو لارې محدودې دي او دې پورې تړاو لري چې تاسو له خپل لوري کوم ناوړه عمل ترسره کړئ. کچيرته تاسو د يو ناوړه جرم مرتکب شئ او يا حکومت په تاسو باندې شک پيدا کړي چې تاسو درغلي کړې ده، تاسو ممکن د دايمي استوګنې څخه بې برخې شئ.

مورږ به وروسته د سفر په اړه وغږيږو، مګر که تاسو د متحده اياالاتو څخه بهر د پام وړ وخت تير کړئ، حکومت ممکن پوښتنه وکړي چې ايا تاسو په ريښتيا هم غواړئ چې په متحده اياالاتو کې ژوند وکړئ او که آيا تاسو تجديد نظر کړى دى.

ستاسو د LPR حالت له لاسه ورکولو لاملونه د مخنيوي وړ دي. که چيرې د متحده اياالاتو حکومت هڅه وکړي چې له متحده اياالاتو څخه LPR حذف کړي ، LPR ممکن دا وړتيا ولري چې خپله موضوع محکمې ته وړاندې کړي.

لنډيز: که تاسو د قانون پيروي وکړئ، ستاسو د دايمي استوګنې حالت به هيڅکله پاى ته ونه رسيږي. تاسو کولى شئ د تل لپاره LPR واوسئ او يا هم تر هغې چې تاسو د متحده اياالاتو تبعه نه شئ. دا پريزنټيشن به تاسو سره د دې قوانينو او مقرراتو په پوهيدو کې، د غير ضروري خطرونو څخه په مخنيوى کولو ، او خپل حالت خوندي ساتلو کې مرسته وکړي.

# Slide 10

- متحده ایالاتو ته له رسیدو سره سم به د ډیرو اسنادو یا پروسو لپاره ستاسو د بیا میشتیدنې اداره له تاسو سره مرسته وکړي. اوس به د امریکا د ځینو نورو مهمو اسنادو او د هغوی د موخو په اړه خبرې وکړو.

د دايمي استوګنې لرونکو يا د LPR تولنيز امنيت کارتونه يا سوشل کارتونه د متحده اياالتو اتباعو ته ورکړل شويو د سوشل کارتونو په څير ښکاري. (SSN يو له لومړنيو رسمي اسنادو څخه دی چې هغو ماشومانو ته ورکول کيږي چې په متحده اياالتو کې زيږيدلي وي.)

له دې کبله چې دا شميره د هر شخص لپاره ځانګړې ده، دا د مختلفو موخو لپاره او متحده اياالتو د مختلفو دولتي ادارو لخوا د خلکو د پيژندلو لپاره کارول کيږي. د بيلګې په توګه، کله چې تاسو په متحده اياالتو کې خپله ماليه تأديه کوئ تاسو به خپل تولنيز امنيت شميرې کارولو ته اړ شئ.

دا کارت له وې ورقې څخه جوړ شوی دی او پوښل کيدلی نشي او له همدې کبله ژر خرابيدلی شي. تاسو بايد دا کارت په يوه خوندي ځای کې وساتئ. همدا راز، اړتيا نشته چې تاسو دا کارت له ځان سره وګرځوئ مګر دا چې کوم رسمي کار ترسره کوئ. له دې امله چې دا شميره ډيری وخت کارول کيږي، تاسو ته سپارښتنه کيږي چې دا شميره په يادو حفظ کړئ.

# Slide 12

د متحده ایالاتو ځیني ټولني د عامه ټرانسپورټ غوره اختیارونه لري. د بیلګې په توګه، بسونه، ریل ګاډي، او یا هم په پښو تګ لپاره اسانتیاوې. مګر په متحده ایالاتو کې ډیری خلک په موټر چلولو باندې اتکاء کوي. د موټر چلولو لپاره یو اعتبار لرونکي لایسنس ته اړتیا شته.

د لایسنس (د موټر چلولو جواز) څخه پرته موټر چلونه غیر قانوني ده.

- په هیڅ ایالت کې هم تاسو نشئ کولی د لایسنس څخه پرته په قانوني ډول موټر وچلوئ.
- د جواز پرته موټر چلول او د نورو ترافیکي سرغړونه کولی شي د کډوالی جدي پایلې ولري چې د خطر ارزښت نلري.
- د ټرافیکي قوانینو پوهاوي او عملي کولو کې له دقت څخه کار واخلئ.

تاسو لومړی کولی شئ د زده کوونکي اجازه نامه واخلئ ترڅو تاسو د موټر چلولو د آزموینې څخه دمخه د موټر چلولو تمرین وکړئ. دا هم ممکن ده چې تاسو د خپل ایالت د موټر چلوني قوانینو او مقرراتو په اړه یو تحریري ازموینه ترسره کړئ. معمولا دا ازموینې په انګلیسي ژبه دي او اکثرا په آنلاین شکل ستاسو د ځایي د نقلیه وسایطو د ریاست (DMV)له لوري واخیستل شي.

د موټر چلولو جواز یو څه د پیژند پاڼې په څیر کارول کیږي. دا د ملي هویت سند ته تر ټولو نږدې سند دی. ډیری وخت دا ډول ID هغه څه دي چې په متحده ایالاتو کې یې خلک د ځان پیژندلو لپاره وړاندې کوي. پیژند پاڼې کیدای شي د موټر چلولو جواز په څیر واوسي او ورته معلومات ولري، مګر دوی یو کس ته د موټر چلولو اجازه نه ورکوي. تاسو کولی شئ چې د موټر چلولو لایسنس یا د دولت لخوا ورکړل شوی پیژند کارت هرچیرې چې ځئ ځانه سره یوسئ. همدا راز، دا اسناد معمولا په عامو ځایونو کې هغه وخت کارول کیږي کله چې تاسو د پیژندنې لپاره سند ته اړتیا ولرئ.

په ټوله کې، تاسو د موټر چلولو جواز او پیژند پاڼې دواړو یوځای ساتلو ته اړتیا نلرئ. یو پیژند پاڼه ممکن د لویانو لپاره چې موټر نه چلوي او د کوچني ماشومانو لپاره ګټور واوسي.

موټر چلول یو له ډیرو هغو موضوعاتو څخه ده چې د ۵۰ ایالتونو او واشنګټن ډي سي تر منځ توپیرونه پکې شتون لري. په دې پاڼه کې شته بریښنایي ادرس به تاسو د هر هغه ایالت DMV ته ورسوي چې تاسو پکې هستوګنه کوئ. باید په پام کې مو وي چې ځیني ایالتونه د DMV ځانګې ته نور نومونه هم کاروي، خو DMV تر ټولو عامه اصطلاح ده چې په ټول هیواد کې د فهم وړ ده.

د یوه داسې کار د ترسره کولو لپاره چې تاسو یې ترسره کول غواړئ او یا د هغو اختیارونو لپاره چې یو ملاقات لپاره وخت وټاکئ او یا باید کوم اسناد تاسو وړاندې کړئ د خپل ایالت د DMV ویبپاڼه وګورئ ترڅو وخت مو ضایع نشي.

اوس مهال، د متحده ایالاتو حکومت په پام کې لري چې ریښتیني پیژند پاڼه د ۲۰۲۵ کال د مې په میاشت کې لازمي کړي. له همدې کبله، اړینه ده چې دا ډول یو پیژند پاڼه ولرئ. د ریښتیني پیژندپاڼې په اړه د لا ډیرو معلوماتو لپاره او یا هم د خپل ایالت د مقرراتو لپاره تاسو کولی شئ لاندې لینک ته مراجعه وکړئ: https://www.dhs.gov/real-id.

په ډیری برخو کې تاسو یواځې یو معیاري د موټر چلولو لایسنس یا جواز ته اړتیا لرئ. مګر که تاسو غواړئ چې د ټرک چلوونکی واوسئ او یا هم د کوم بل ځانګړي موټر چلونکی شئ، تاسو یوه ځانګړي د موټر چلوونکي لایسنس یا جواز ته اړتیا لرئ ترڅو دا ډول دنده ترسره کړئ.

# Slide 13

کله چې تاسو خپل اړین اسناد لکه ګرین کارټ او د ټولنيز امنيت کارټ  تر لاسه کړئ، هغه بايد په يوه خوندي ځای کې وساتئ. ددې په پار چې شايد تاسو ته ناڅاپه ددغو اسنادو اړتيا پيدا شي، تاسو کولی شئ د دغو سندونو انځورونه پخپلو ګرځنده مبايلونو کې له ځانه سره ولري. تاسو همدا راز کولی شئ ددغو اسنادو فوټوکاپي له ځانه سره ولرئ کچيرته تاسو يې غوره ګڼئ. البته، تاسو بايد دا فوټوکاپي ته پوښ ورنه کړئ او نه يې بايد داسې جوړ کړئ چې د اصلي سند په شان معلوم شي ترڅو تاسو د جعلي اسناد جوړولو په تور کې رانشئ.

کچيرته تاسو د USCIS  اکاونټ يا حساب ولرئ، تاسو کولی شئ د مهاجرت په اسنادو کې ځينې اساسي ستونزې اصلاح او حل کړئ. تاسو کولی شئ د دلته د USCIS  حساب لپاره نوم ليکنه وکړئ: .https://my.uscis.gov/ تاسو کولی شئ دا حساب د ځانګړو  غوښتنليکونو د سپارلو لپاره وکاروئ، د سمون غوښتنه وکړئ، يا آنلاين يو څه اضافه کړئ.

که تاسو خبرتيا يا سند نه وي ترلاسه کړی، تاسو کولی شئ د  USCISپه دې لينک کې د خدماتو  غوښتنه وکړئ: https://egov.uscis.gov/e-request/Intro.do.

د لويو تعديلاتو يا بدلونونو لپاره، تاسو بايد د I-90  فورمه وکاروئ. تاسو کولی شئ د خپل ګرين کارټ بدلولو په اړه نور معلومات په https://www.uscis.gov/green-card/after-we-grant-your-green-card/replace-your-green-card کې ومومئ.

اوس مهال، د ګرين کارټ بدلول د ډيری خلکو لپاره ۵۴۰ امريکايي ډالره لګښت لري. د USCIS  فيس د حساب ماشين (https://www.uscis.gov/feecalculator) کولی شي تاسو سره د غوښتنې د دليل پر اساس د بديل فيس معلومولو کې مرسته وکړي.

که ستاسو ګرين کارټ کومه تېروتنه ولري يا تاسو د کوم دليل لپاره خپل معلومات بدلولو ته اړتيا پيدا کړئ، د  I-90 فورمې لارښوونې وګورئ چې کوم ډول اسناد بايد ورته تسليم کړئ.   .https://www.uscis.gov/sites/default/files/document/forms/i-90instr.pdf

# Slide 16

**دوامداره اوسیدل یا اقامت** په دې مانا دی چې متقاضي په متحده ایالاتو کې د قانون د غوښتنې سره سمې موده لپاره دایمي استوګنځای حفظ کړي. د متقاضي هستوګنه معمولا د هغوی د اصلي فزیکي ځای څخه عبارت ده.

**فزیکي شتون** د هغو ورځو شمیر ته ویل کیږي په کومو کې چې متقاضي باید د تابعیت د غوښتنلیک د ثبت کولو تر نیټې پورې، په متحده ایالاتو کې د قانوني مودې په جریان کې پاتې شوی وي (حضور ولري).
USCIS د تابعیت ورکول په موخه د متقاضي هغه ورځ چې پکې د متحده ایالاتو څخه بهر سفر کوي او هغه ورځ چې بیرته راستنیږي په متحده ایالاتو کې د فزیکي شتون په توګه شمیري.
مور متحده ایالاتو ته د ننوتلو له نیټې څخه ۵ کاله د لومړنۍ نیټې په توګه شمیرو چې تاسو یې د تابعیت لپاره غوښتنه کولی شئ.

**تاسو اوسمهال څه کولی شئ ترڅو د تابعیت اخیستلو لپاره چمتو شئ؟ کچیرت تاسو غواړئ چې د متحده ایالاتو یو تبع شئ، تاسو کولی شئ دغه عملي مرحلې په پام کې ونسئ:**

تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي کولی شئ چې د انګلیسي ژبې د مهارت د ښه کولو لپاره کار وکړئ. په انګلیسي باندې د خبرو کولو وړتیا تاسو سره مرسته کوي ترڅو یوه دنده ترلاسه کړئ او د خپلې نوې ټولنې یوه برخه وګرځئ. همدا راز، دا تاسو سره مرسته کوي ترڅو په راتلونکو ۵ کلونو کې د تابعیت اخیستلو لپاره پوښتنو ته چمتو شئ. د انګلیسي ژبې د زده کړې لپاره ګڼې لارې چارې شتون لري. د بیلګې په توګه تاسو کولی شئ د ټولنې په سطحه د ټولګیو او یا هم د وړیا اپلیکشنونو څخه په کار اخیستنې سره انګلیسي زده کړئ.

د تابعیت د ترلاسه کولو لپاره تاسو باید دا ثابته کړئ چې تاسو په متحده ایالاتو کې په دوامداره او اوسیدلي یاست او فزیکي شتون مو درلود. ددغه کار ترسره کولو لپاره، تاسو باید د خپل سفرونو، په متحده ایالاتو کې د اوسیدلو ځایونو، او داسې نورو په اړه معلومات او اسناد چمتو کړئ. د خپل سفرونو، د اوسیدلو د ځایونو، د دندې او د قانوني موضوعاتو د نیټو د اسنادو چمتو کول به ستاسو سره په راتلونکې کې مرسته وکړي. باید ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو بهر ته د سفر، د دنده، او د هستوګنې د ځای د پیل او ختمیدلو ټولې مشخصې نیټې خوندې کړې دي.

جرمي فعالیتونه کولی شي په کډوالۍ باندې منفي اغیزې ولري. کچیرته تاسو جرمي سابقه ولرئ او یا مو په تیر وخت کې د قانون څخه سرغړونه کړې وي، تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې د کډوالو له یو وکیل سره په دې تړاو خبرې وکړئ.

د فایل (ثبت) کولو فیس تادیه کولو لپاره چمتو اوسئ. **اوسمهال ثبتولو فیس** ۷۲۵ امریکایي ډالره دي او د بایومیتریک لپاره ۸۵ امریکایي نورو ډالرو ته اړتیا ده. (دا قیمت د وخت په تیریدلو بدلون مومي. تاسو کولی شئ د ثبت کولو په وخت کې د قیمت معلوملو لپاره د USCIS د فیس د حساب ماشین د ثبتولو د فیس د کتلو لپاره په دغه بریښنایي آدرس کې وګورئ:
https://www.uscis.gov/feecalculator د ثبت کولو قیمت ممکن په لوړه کچه وي په ځانګړې توګه د لویو کورنیو لپاره د ۱۸ او یا له هغې څخه پورته عمر لرونکي اولادونه ولري، نو له همدې کبله اړینه ده چې ددغو مصارفاتو د ترسره کولو لپاره سپما وکړئ.

**اوسمهال د پروسس کولو وختونه:** قضایي صلاحیت (د اوسیدلو ځای) ته په کتنې سره له ۶ څخه تر ۱۳ میاشتو پورې وخت دی (په ویرجینیا کې ۸/۵ میاشتې دی). د پروسس وخت ممکن یا احتمالا د وخت په تیریدلو سره بدلون ومومي. په پام کې مو باید وي چې د غوښتنې او د تابع کیدلو ترمنځ به د انتظار یو څه وخت وي.

هغه وخت چې تاسو د تابعیت اخیستلو لپاره چمتو شئ، د کډوالۍ له وکیل سره مشوره کول به ستاسو لپاره ډیر مرسته کوونکی واوسي. موږ به په بله برخه کې ستاسو سره د مرستې لپاره د وړ وکیلانو پیژندلو څرنګوالي په اړه لارښوونې چمتو کړو. تاسو کولی شئ د خصوصي مهاجرت وکیل استخدامولو په اړه فکر وکړئ یا د غیر انتفاعي یا بل سازمان څخه د قانوني مرستې غوښتنه وکړئ چې د متحده ایالاتو تابعیت لپاره د خلکو سره مرسته کوي.

# Slide 20

USCISپه اتومات شکل هغو ماشومانو ته د اتباع سند نه ورکوي چې د ۱۸ کلو څخه ټیټ عمر ولري او د مور او پلار له طریقه تابعیت ترلاسه کوي. خو بیا هم، ستاسو اولادونه دي ته اړتیا نلري چې د متحده ایالاتو د اتباع سند ولري. کچیرته تاسو ددې علاقه لرئ چې هغوی ته سند تر لاسه کړئ، تاسو کولی شئ د N-600 فورمه په .(https://www.uscis.gov/n-600) ویب پاڼه کې ډک کړئ.

یو پاسپورت د تابعیت اعتباري ثبوت چمتو کوي او ډېر ارزانه ترلاسه کیږي. د خپل ځان او اولادونو لپاره د پاسپورټ ترلاسه کولو په اړه لا ډیر معلومات دلته کتلی شئ: https://travel.state.gov/content/travel/en/passports/how-apply.html

له یوې ښځه ډېرو مېرمنو سره ودونه: که چېرې تاسو له یوې ښځه ډېرې مېرمنې لرئ، یوازې ستاسو لومړنۍ مېرمن مو د کډوالۍ موخو لپاره د قانوني مېرمنې په توګه په پام کې نیول کېدلی شي. که چېرې تاسو غواړئ چې کوم بل څوک ستاسو د مېرمنې په توګه په قانوني ډول وپېژندل شي، تاسو باید لومړنۍ مېرمنې ته طلاق ورکړئ او بیا له پام وړ مېرمنې سره واده وکړئ.

# Slide 25

کله چې د انتظار وخت ”فعلي“ وواېي دا په دې مانا ده چې د ویزو شمیره د تل لپاره موجودې دي، مګر د پروسس کولو وخت شاید د ۶ میاشتې – ۱/۵ کاله پورې واوسي.

د هر انتظار وخت لپاره د پروسس د وخت لپاره د هر اټکل سره همیشه له ۶ څخه تر ۱۲ میاشتو پورې اضافه کړئ.

د وخت په تېریدو سره د انتظار وخت کې هم بدلون راځي – هغه اټکلونه چې دلته ترې یادونه شوې د اوس مهال لپاره د تطبیق وړ دي. د هرې کټګورۍ د انتظار وخت د معلومولو لپاره د The Visa Bulletin ویب پاڼه تر ټولو غوره ځای دی = (https://travel.state.gov/content/travel/en/legal/visa-law0/visa-bulletin.html)

د متحده ایالاتو څخه بهر د کورنۍ غړي باید د متحده ایالاتو د قونسلګرۍ له لارې پروسس شي:

هغه افغانان چې په افغانستان کې دي او د وتلو توان نلري کولی شي د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د افغان بیا ځای پرځای کیدنې هڅو لپاره د همغږي کونکي (CARE) څخه مرسته ترلاسه کړي.

د کورنۍ غړي به متحده ایالاتو ته د دایمي اوسیدونکو LPR په حالت کې را ورسیږي.

د کورنۍ هغه غړي چې دمخه په متحده ایالاتو کې موجود دي او تاسو ورته غوښتنه کړې، کولی شي د ګرین کارټ د ترلاسه کولو لپاره د I-485 فورمه ډکه کړي

د I-130 فورمې د ثبتولو فیس ۵۳۵ امریکایي ډالره دی **(د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر میاشتې د ۳۰ نیټې څخه افغان اتباعو ته <u>په وړیا شکل</u> د فورم ثبت کیږي)** کچیرته تاسو اړتیا لرئ چې د کورنۍ یوه غړي لپاره فایل جوړ کړئ، د رارسیدلو څخه وروسته ژر تر ژره دا ترسره کړئ ترڅو په راتلونکې کې یې بیه کمه کړئ.

د فورمونو د ثبتولو فیس د بدلون تابع دي.

پارول د ویزې د عادي پروسس کولو مهال ویشونو او پروسیجرونو څخه د مخنیوي لپاره ندي.

- که چیرې ویزه یا بله لاره شتون ولري، تاسو باید وښایئ چې ولې ستاسو خپلوان د دې پروسې بشپړیدو ته انتظار نشي کولی

د پارول غوښتنه کول ډیر کار او کاغذ کار ته اړتیا لري. تاسو باید د هر هغه چا سره مالي ملاتړ وکړئ چې تاسو یې غواړئ د بشردوستانه پیرول ترلاسه کړئ. د کورنۍ هر غړی چې تاسو یې د پیرول په لټه کې یاست د خپلو اسنادو سیټ ته اړتیا لري. څکه چې دا پیچلې ده او ځینې وختونه اړتیاوې بدلیږي، یو څارنوال کولی شي د بشردوستانه پیرول لپاره دوسیه کولو په وخت کې ګټور وي.

پارول دایمي حالت یا شنه کارت یا تابعیت ته اتومات لاره نه ورکوي

- ستاسو د کورنۍ یو غړی باید د دایمي پاتې کیدو لپاره د پناه غوښتنه وکړي یا د نورو ګټو لپاره غوښتنه وکړي.

وروستنۍ تصویب د قونسلګرۍ مرکې، د ملي امنیت تصفیه او د ننوتلو دمخه د روغتیا معاینه کولو ته اړتیا لري.

- د کورنۍ غړي باید په داسې ځای کې وي چیرې چې دوی کولی شي د متحده ایالاتو قونسلګرۍ ته لاسرسی ومومي.
- د افغانستان څخه بهر د خلکو غوښتنلیکونه لومړیتوب لري.

د غوښتنلیک پروسه:

- فورمه I-131، د سفر سند لپاره غوښتنلیک، د پیرول لپاره غوښتنه کول
- د فایل کولو فیس $ 575 دی، که څه هم د فیس معافیت ممکن د اړتیا پراساس شتون ولري
- غوښتونکی باید د I-134فورمه وسپاري او یوازې د ګټه اخیستونکي یا بل سپانسر سره د مالي ملاتړ ورتیا وښیي.
- د خپل غوښتنلیک په ملاتړ اسناد وسپارئ:
  - د اړیکو اسناد
  - د ټیي کیدو یا د ټیي کیدو خطر شواهد
  - د شاهدانو بیانونه
  - د کورنۍ اړیکو ثبوت

USCIS لاندې فکتورونه د پیرول لپاره د ورتیا لپاره قوي مثبت فکتورونه ګڼي:

- د متحده ایالاتو تبعه یا LPRسمدستي کورنۍ
- په کابل کې د امریکا د سفارت سیمه ییز کارکوونکي
- د ځانګړي مهاجرت ویزې ( (SIVغوښتونکي د ماموریت مشر ( (COMتصویب سره.
- د افغان اتباعو سمدستي خپلوان مخکې د بنه راغلاست متحدینو عملیاتو له لارې خوشې شوي
- هغه کسان چې د P-1 یا P-2 کډوالو راجع کولو سره
- **د هغو افغان اتباعو د کورنۍ غړي چې د SIVسره متحده ایالاتو ته داخل شوي دي**
- هغه اشخاص چې د متحده ایالاتو ماموریت سره یې مرسته کړې او د زیان خطر یې اعلان کړی

هغه څه چې باید پرې پوه شئ:

**عریضه کوونکی** = تاسو هغه څوک یاست چې عریضه وړاندې کوي

**ګټه اخیستونکی** = هغه څوک چې تاسو په متحده ایالاتو کې د پیرول لپاره غوښتنه کوئ.

**سپانسر** = یا تاسو یا بل څوک چې کولی شي د ګټه اخیستونکي مالتړ لپاره کافي مالي سرچینې وښیې.

غوښتونکی باید د هر ګټه اخیستونکي لپاره جلا جلا فورمه I-131ثبت کړي.

غوښتونکی باید د I-134فورمه وسپاري او د ګټه اخیستونکي سره د مالي ملاتړ ورتیا وښیي:

- د I-134فورمه وسپارئ، د مالي ملاتړ اعالمیه، د I-131فورمې سره، د کافي مالي سرچینو شواهدو سره.
- که تاسو سپانسر نشئ کولی، تاسو کولی شئ د سپانسر سره غوښتنه وکړئ
- شریک سپانسر ممکن افراد، سوداګرۍ یا سازمانونه وي

د کافي سرچینو د ټاکلو لپاره یو ښه اساس د متحده ایالاتو د بې وزلۍ لارښوونې دي: https://www.uscis.gov/i-864p.

- د مثال په توګه، که تاسو د 4 کورنۍ یاست او غواړئ چې 2 نور خلک امریکا ته راوړي، تاسو باید د خپلې کورنۍ لپاره لږ تر لږه $ 52,450 عاید ښکاره کړئ.

د پروسس کولو وختونه او اړتیاوې د بدلون تابع دي. تازه لارښود په https://www.uscis.gov/humanitarian/humanitarian-parole/information-for-afghan-nationals-on-requests-to-uscis-for-paroleکې موندلی شئ.

# Slide 29

په متحده ایالاتو کې د کورني سفر په اړه یو لنډ یادداښت: تاسو کولی شئ د متحده ایالاتو (ټول ایالتونو او سیمو) ته د خپل ګرین کارټ یا د خپل موټر چلولو د جواز (لایسنس) کارولو سره الوتنه او سفرونه وکړئ.

د متحده ایالاتو څخه بهر نورو هیوادونو ته د سفر کولو لپاره تاسو یو د اعتبار وړ پاسپورټ ته اړتیا لرئ. له دې پرته چې تاسو د متحده ایالاتو تبعه وګرځئ، تاسو نشئ کولی چې د متحده ایالاتو پاسپورټ ترلاسه کړئ. د دایمي استوګني لرونکو یا LPRs لپاره کوم اضافه د سفر کولو اسناد شتون نلري. ددې موضوع لنډیز دادی چې تاسو د نړیوال سفر لپاره داسې افغاني پاسپورټ ته اړتیا لرئ چې د اعتبار نیټه ولري او متحده ایالاتو ته د بیرته راستندلو لپاره تاسو ګرین کارټ ته اړتیا لرئ.

وروستی ټکی خورا اړین دی. که تاسو پریکړه وکړئ چې د متحده ایالاتو یوه تبعه شئ، تاسو باید دا وښایاست چې تاسو په متحده ایالاتو کې د اړتیا وړ وخت لپاره پاتې شوي یئ او تاسو باید خپل نړیوال سفرونه هم لیست کړئ. په ټوله کې اړینه ده چې تاسو د شپږو میاشتو د مودې څخه زیات سفرونو څخه ډډه وکړئ. که تاسو د اوږدې مودې لپاره له متحده ایالاتو څخه بهر د LPR په توګه پاتې شئ، د متحده ایالاتو حکومت ممکن فکر وکړي چې تاسو په متحده ایالاتو کې د استوګنې په توګه د ژوند کولو هوډ نه لرئ او ستاسو د دایمي استوګنې حالت به د پریښودل شوي حالت په توګه پام کې ونیسئ.

# Slide 30

**افغانستان ته سفر کول یو خطرناک کار دی** مګر په مستقیم ډول منع شوی نه دی.

د سفر خطرونو څخه باخبر اوسئ او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د سفر مشورې ځانګړي سره مشوره وکړئ.

که تاسو د دا ډول سفر اراده لرئ باید د کډوالۍ له وکیل سره اړیکه ونیسئ.

متحده ایالات محدودې سرچینې لري ترڅو تاسو سره په هغه وخت کې مرسته وکړي چې تاسو افغانستان ته سفر وکړئ او له کومې ستونزې سره مخ شئ.

کچیرته تاسو افغانستان ته د سفر کولو هوډ وکړئ، مهرباني وکړئ د خوندي پاتې کیدو لپاره احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسئ.

**د متحده ایالاتو د مناسب کور درلودلو قوانین،** ځمکوال د ملیت یا آن د کډوالۍ حیثیت پر بنسټ د هر چا پر وړاندې له تبعیض څخه منع کوي.

ستا د بیا مېشتونې اداره به په متحده ایالاتو کې اوسېدلو لپاره ستاسو په لومړي ځای کې درسره مرسته وکړي.

کله چې تاسو خپل کور انتقال کړئ، په ۱۰ **ورځو** کې دننه **د AR-11 انلاین فورمې** په کارولو **له USCIS سره خپل ادرس تازه کړئ** څو باوري شي چې تاسو ټول رسیدونه، خبرتیاوې او اسناد ترلاسه کړئ.

کله چې تاسو متحده ایالاتو ته راشئ، اړینه ده چې د قانون درناوی یې وکړئ. تاسو حتما نه غواړئ چې زندان ته لاړ شئ او د ځینو جرمونو ترسره کول ښايي تاسو او ستاسو کورنۍ لپاره د کډوالۍ جدي پایلې رامنځته کړي.

له قانون څخه ناخبري د قانون ماتولو لپاره کوم عذر نه دی.
هغه ډیر تکراریدونکي جرمونه چې افراد د دایمي اوسیدلو او د تابعیت ترلاسه کولو څخه منع کوي په لاندې ډول سره دي:

- حال کې موټر چلول
- د لایسنس پرته د موټر چلول
- د مخدره موادو کارول او یا د مخدره موادو اړوند جرمونه
- کورنۍ تاوتریخوالی – خپلې ښځې

همدا قوانین ستاسو اولادونه باندې هم د تطبیق وړ دي. باید ډاډ ترلاسه کړئ چې خپلو ټولو اولادونو ته په ځانګړي توګه هغو مشرانو اولادونو ته چې ژر به د ۱۸ کلو شي ددغو قوانینونو د مطابعت کولو اهمیت او د جرمي سابقې څخه د ځان ژغورلو په اړه پوهاوی ورکړئ.

دا په پام کې نیول اړین دي چې مونږ دوه ډوله قوانین لرو چې باید درناوی يې وکړو. فدرالي قوانین (لکه د کډوالۍ قوانین) په ټول هېواد کې د تطبیق وړ دي. ایالتونه ډېر واک لري چې له ځانګړو پولو پرته خپل اصول ترتیب کړي.

د بېلګې په ډول، د فدرالي قانون له مخې هر کارکوونکي ته باید په یوه ساعت کې 7.5 ډالر مزدوري ورکړل شي. دا د فدرالي قانون له مخې حداقل معاش/ مزدوري ده.
هېڅ ایالت خپل لږ تر لږه مزدوري تر دغې کچې کمولی شي. سره له دې، ډېر ایالتونه د فدرال په پرتله خپل حداقل معاش تر دغې کچې لوړ ترتیب کړی دی. په کلیفورنیا کې د ایالت حداقل مزدوري په هر ساعت کې 16 ډالر ده. په دې مانا، چې ګمارونکي باید د قانون له مخې په هر ساعت کې 16 ډالر مزدوري/ معاش ورکړي.

له فدرالي یا ایالتي قانون څخه سرغړونه ستاسو د کډوالۍ، کار او نورو برخو کې ستري ستونزې رامنځته کولی شي.

ځانګړې خدمت د راټلونکي احتمالي پوځي جلب لپاره د معلوماتو راټولول دي. د متحده ایالاتو وروستی ځل جلب په 1972 کال کې و او کم احتمال لري چې بیا له سره تصویب شي.

راجستر کېدنه تاسو نه مجبوروي چې له پوځ یا ورته بل څه سره یو ځای شئ.

که دا په تاسو باندې تطبیق ورې وی، تاسو به د قونسلګری انټرویو یا د مهاجرت فورمو ډکولو په وخت کې د انتخابي خدماتو د راجستریشن په اړه یو فورمه لاسلیک کړې وای. دا راجستریشن ندی. تاسو نشئ کولی نوم لیکنه وکړئ پرته لدې چې تاسو په متحده ایالاتو کې یاست او د ټولنیز امنیت شمیره مو نه وي صادره شوې.

که تاسو په متحده ایالاتو کې ۱۸ کلن شئ، تاسو باید د خپلې ۱۸ کلنی کلیزې څخه د ۳۰ ورځو په موده کې نوم لیکنه وکړئ.

ښوونځي ته د ټګ عمر ښايي په يوه ايالت کې له بل ايالت سره توپير ولري، خو 5 – 17 کلن ماشومان بايد په عمومي توګه ښوونځي ته حاضر شي.

په ښوونځي کې د يوه ماشوم داخلولو لپاره، تاسو اړ ياست چې د هويت تصديق، عمر، د اوسېدلو ځای او واکسين کارت وښاياست.

- تاسو د خپلې بيا مېشتېدني ايجنسۍ څخه غوښتلی شئ چې د ماشومانو د شاملولو لپاره مرسته درسره وکړي او د لا زياتو معلوماتو لپاره د خپل محلي ښوونځي د ناحيې وېبپاڼه وګورئ.
- په عمومي ډول، د ښوونځي نوی کال په اګست يا سپتمبر کې پيلېږي او د ماشومانو ښوونځي په اوړي کې رخصت وي.

**د رسمي او نارسمي ټولګيو او تعليمي پروګرامونو له لارې، د لويانو لپاره هم فرصتونه شته چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.**

- مسلکي او تخنيکي ښوونځي او د لويانو د تعليمي پروګرامونو دوام ښايي د ډېرو لپاره يو ښه انتخاب وي:
- هغه خلک چې خپله لېسه يې بشپړه کړې نه وي، ښايي د عمومي تعليمي ودې ازموينو (GED) لپاره درس وواييي. د دغو ازموينو بشپړول لويانو زده کوونکو لپاره د لېسې ډيپلوم برابر سند ورکوي.
- خلک کولی شي چې په متحده ايالاتو کې په خپل مسلک کې يو مسلکي جواز يا اضافي روزنه ترلاسه کړي، د هغو خلکو په ګډون چې په افغانستان کې يې په يوه مسلکي کسب کې کار کړی وي يا غواړي چې معتبر ليک ترلاسه کړي. د ګټبتونو کمولو لپاره ښايي بورسونه/ سکالرشيپونه هم موجود وي.
- د انګليسي زده کړې ټولګي يوه غوره طريقه ده چې ستاسو د ژبې مهارتونه لوړ او په ټولنه کې له نورو خلکو سره وصل شئ. د خپلې بيامېشتېدنې ايجنسۍ څخه د انګليسي ژبې محلي ټولګيو په اړه وپوښتئ چې هغوی يې سپارښتنه کوي. په ځينو سيمو کې يوازې ښځينه وو لپاره هم د انګليسي ژبې ټولګي موجود دي.

**محلي عامه کتابتونونه** ستاسو په نوې ټولنه کې د معلوماتو يوه غوره سرچينه کېدلی شي.

- ځينې کتابتونونه انګليسي د دويمې ژبې په توګه (ESL) ټولګي، د بحث ګروپونه او د خبرو اترو شريکوالان وړاندې کوي. ډېر عامه کتابتونونه آن وړيا انګليسي اپليکيشنونه او غړيز کتابونه هم چمتو کوي. ځينې کتابتونونه آن د تابعيت ټولګيو په څېر د کډوالۍ په اړه معلومات هم چمتو کوي.
- ډېر کتابتونونه کمپيوټر او پرنټر ته لاسرسی هم چمتو کوي او محلي غونډې عاموي.
- تاسو کولی شئ چې د ځان او خپلو ماشومانو لپاره د کتابونو ترلاسه کولو لپاره د کتابتون کارډ ترلاسه کړئ.

# Slide 38

په متحده ایالاتو کې تاسو له کوم ځانګړي کارفرما سره تړلي نه یاست. تاسو حق لرئ چې د هر چا لپاره چې تاسو وغواړئ کار وکړئ یا آن خپل شرکت ولرئ او پر مخ بوځئ.

په افغان ټولنه کې نور وګړي ښايي د دندې د اجازې سند یا EAD په نوم د يوه ځانګړي سند ترلاسه کول وغواړي. دغه سند ستاسو لپاره اړین نه دی – ستاسو ګرین کارډ ښیي چې تاسو کار کولی شئ. تاسو کولی شئ چې له انتظار پرته په لومړۍ ورځ کار پیل کړئ.

دا امکان لري چې تاسو په اتومات ډول د متحده ایالاتو له حکومت څخه د دندې د اجازې سند EAD ترلاسه کړئ. تاسو ورته اړتیا نه لرئ، خو درلودل یې ښه دي او هغه مهال یې ښودلی شئ چې څوک يې پوښتنه وکړي.

# Slide 39

**تاسو کولی شئ چې د کار کولو د اجازې د ثبوت په توګه د LPR یا ګرین کارډ یا  د ویزې مهر/ foil وړاندې کړئ.**

کارفرما تاسو ته نه شي ویلی چې کوم اسناد وړاندې کولی شئ، که هغوی د کار لپاره د وړ کېدنې تصدیق په توګه د اضافي یا نورو اسنادو لیدو غوښتنه وکړي، له ډېرو ستونزو سره مخ کېدلی شي. د متحده ایالاتو د قانون مطابق، LPRs د متحده ایالاتو اشخاص ګڼل کیږي او له یو څو استثناوو پرته (لکه حساسې دندې چې د متحده ایالاتو تابعیت ورته اړین دی) نږدې ټولې دندې ترسره کولی شي.

که یو څوک ووایي چې هغوی به تاسو و نه ګماري ځکه چې تاسو د ګرین کارډ درلودونکي یاست یا ستاسو د وضعیت پر بنسټ درسره تبعیضي چلند وکړي، له تاسو سره مرستې لپاره یوه دولتي اداره موجوده ده. د عدلیې وزارت د کډوالۍ او کارکوونکي حقونو څانګه (IER) د کډوالۍ وضعیت پر بنسټ تبعیض شکایتونه اوري او د کارفرما او کارکوونکو لپاره لارښوونې لري. د لا زیاتو معلوماتو او د کارکوونکي د ملاتړ کرښې لپاره د IER ویبپاڼه https://www.justice.gov/crt/immigrant-and-employee-rights-section ووینئ

همدا راز تاسو به اړتیا ولرئ چې تر ګمارل کېدلو وروسته د مالیې اسنادو په ګډون ځینې اضافي اسناد بشپړ کړئ.

د کډوالۍ له لیدلوري، تاسو کولی شئ ځنګه چې وغواړئ کار وکړئ او ځان او خپله کورنۍ حمایه کړئ.

په متحده ایالاتو کې ځینې مسلکونه یوه جواز یا د حکومت له لوري ځینو نورو اجازو درلودلو ته اړتیا لري. معلومه کړئ چې ستاسو په ایالت کې هغې دندې لپاره لایسنس/جواز اړین دی چې تاسو یې غواړئ. د دې لپاره یوه ښه سرچینه https://www.careeronestop.org/toolkit/training/find-licenses.aspx کېدلی شي. هر ایالت جلا اداري لري چې مسلکونو لپاره جوازونه ورکوي، نو تاسو اړ یاست چې د خپل ایالت او دندې اړوند اصول وګورئ.

له افغانستان څخه ستاسو جوازونه ښايي انتقال شي یا نه شي. په ډېرو قضیو کې، تاسو ښايي ځینې اضافي روزنې ته اړتیا ولرئ څو وتوانېږئ چې په متحده ایالاتو کې په خپل مسلک کې کار وکړئ البته که چېرې مسلک اجازه ولري. له کډوالو سره د مرستې لپاره د Upwardly Global په څېر ځینې مؤسسې موجودې دي چې په متحده ایالاتو کې په خپل مسلک کې بېرته کار پیل کړي. https://www.upwardlyglobal.org/

تاسو باید باوري اوسئ چې په یوه قانوني او جواز ته اړتیا درلودونکي مسلک کې تر کار پیلولو مخکې اړین جوازونه ترلاسه کړئ څو د جدي جریمو مخه ونیول شي.

په ډېرو دندو کې د انګلیسي ژبې مهارت مهم دی.

همدا راز تاسو کولی شئ چې نوي مسلکي مهارتونه ترلاسه کړئ او په متحده ایالاتو کې یوه نوې دنده وغواړئ. ستاسو د بیامېشتېدنې ایجنسي کولی شي چې د مسلکي ودې، زده کړو ته د ادامې ورکولو او یوې نوې دندې موندلو لپاره مو له منابعو سره وصل کړي.

# Slide 41

په متحده ایالاتو کې مونږ په دندو کې تبعیضي چلند جدي نیسو. په دې مانا، کارفرما تاسو له دې امله نه شي رد کولی چې تاسو یو کډوال یاست او د متحده ایالاتو تبعه نه یاست. که تاسو فکر کوئ چې له دغسې یوې پېښې سره مخ یاست، د دې لپاره یوه ټلیفوني کرښه موجوده ده چې اړیکه ورسره نیولی شئ (1-800-255-7688).

همدا راز د ډېرو نورو فکتورونو لکه جنسیت، مذهب یا عمر لامله هم له تاسو سره تبعیض نه شي کېدلی. که چېرې تاسو د تبعیض له نورو ډولونو سره مخ شوئ، تاسو باید لومړی د کارفرما د بشري سرچینو (HR) ډیپارټمنټ سره اړیکه ونیسئ.

که تاسو له دغه ډول ستونزې سره مخ شوئ او راپور یې کړئ، د خبرلو لپاره یې ایالتي یا فدرالي اداري موجودې دي او که مرستې ته اړتیا ولرئ، د دندې اړوند متخصص وکیل ګمارلی شئ.
دا په دې مانا هم ده، چې تاسو په کارځای کې د نورو خلکو پر وړاندې هم تبعیض نه شئ کولی.

په همدې ډول، تاسو په کارځای کې د خوندیتوب حق لرئ (https://www.osha.gov/workers) او ستاسو د کار په بدل کې باید تل تاسو ته معاش درکړل شي (https://www.dol.gov/agencies/whd/wow).

# Slide 42

کارفرما باید ستاسو د کار په بدل کې تاسو ته معاش درکړي.

**د دندې ډېر مختلف ډولونه او د معاش ورکونې مختلفې طریقې موجودې دي.** ځینې وختونه تاسو یو ټاکلی معاش اخلئ (د بېلګې په ډول په کال کې 50,000 ډالر). ځینې نور وختونه تاسو ته د ساعت له مخې اداینه کیږي (د بېلګې په ډول، په یوه ساعت کې 20 ډالر). که تاسو په یوه رستورانت کې کار کوئ، تاسو ته ښایي د خدمت په بدل کې د بخششونو په توګه اداینه وشي. کله چې تاسو یوه دنده پیلوئ، ستاسو د دندې جوړښت باید په یوه قرارداد یا خط کې تشریح شي. که تاسو پر یو څه و نه پوهېږئ، له خپل کارفرما څخه یې وضاحت وغواړئ.

پر دې پوهېدل درسره مرسته کوي چې تاسو ته به څو ځله معاش تادیه کیږي (په اوونیزه توګه یا په میاشت کې یو ځل؟)، څو تاسو خپلې مالي اړتیاوې ورسره عیارې کړئ.

ستاسو د دندې ډول، ستاسو پر کار د مالیو تحویل اغېزمنوي، چې مغشوش والی رامنځته کولی شي. ځینې وختونه تاسو ښایي یو خپلواک قراردادي اوسئ، لکه د Lyft لپاره موټر وچلوئ، Uber Eats لپاره خواړه ورسوئ یا وېبټان جوړ کړئ. په دې حالت کې، تاسو باید په ربعوار ډول خپلې مالیې تحویل کړئ او ستاسو له عاید څخه په اتومات ډول و نه ګرځول شي.

که تاسو یو دایمي (Full Time) کارمند شئ، ستاسو کارفرما به په اتومات ډول هغه برخه مالیات وګرځوي چې تاسو یې دولت ته پر ورکړه اړ یاست.

که چېرې یو کارفرما تاسو ته ستاسو د کار په بدل کې اداینه ونکړي، تاسو مرسته غوښتلی شئ. د مزدورۍ/ معاش نه ورکول یوه جدي ستونزه ده. دغه مقاله یو ښه پیلوونکی ټکی دی
څو وپوهېږئ چې د مناسبې اداینې د نه ترسره کېدلو په صورت کې څه کولی شئ.

# Slide 43

په متحده ایالاتو کې مالیې ډېرې پیچلې دي، خو تاسو باید د قانون د درناوي لپاره مالیې تحویل کړئ. د مالیو ورکړه د قانون غوښتنه ده.

کله چې تاسو په یوه دوکان کې څه اخلئ، تاسو باید د خرڅلاو مالیې په څېر ځینو مالیو په اړه اندېښنه ونکړئ. دغه ډول مالیه په اتومات ډول ګرځول کیږي.

اصلي شی چې تاسو یې باید په اړه پام وکړئ، ستاسو د عاید پر سر "کلنۍ مالیه" ده. تاسو باید له فدرال حکومت سره (او د احتمال له مخې ستاسو ایالت سره هم) یوه دوسیه جوړه کړئ. همدا راز تاسو ښایي اړ شئ چې د خپل خاوند/ مېرمن او په ډېرو قضیو کې د ماشومانو په اړه هم معلومات چمتو کړئ. له نېکه مرغه، ډېری مهال وړیا یا کم لګښت درلودونکي سافټویر موجود وي، یا تاسو کولی شئ چې د خپلو مالیو په چمتو کولو کې د مرستې لپاره یو محاسب وګمارئ.

د خپلو مالیو نه ورکړه جدي پایلې درلودلی شي. له دې امله تاسو جریمه کېدلی شئ، ملکیت مو درنه اخیستلی شي، په اتومات ډول مو معاشونه "garnished," کېدلی او آن جنایي تورونه لیدلی شئ. د مالیو نه ورکړه د متحده ایالاتو د تابعیت اخیستلو پر وړاندې هم خنډ کېدلی شي.

# Slide 45

د بیمې ځینې ډولونه د متحده ایالاتو د قانون له مخې اجباري دي.

نور ډولونه يې د کوم بد څه د پېښېدلو په صورت کې د مالي ستونزو د مخنیوي لپاره یوه ښه نظریه ده.

# Slide 46

ستاسو د عاید، عمر او نورو فکتورونو مطابق، د Medicare یا Medicaid په څېر د متحده ایالاتو د پروګرامونو له لارې له تخفیف سره مل یا وړیا صحي بیمه موجوده وي.

ډېر خلک د خپل کارفرما له لارې صحي بیمه ترلاسه کوي.

ډېری کارفرما شرط لري چې تاسو یو پلان انتخاب کړئ او ستاسو له معاش څخه به یې ځینې لګښتونه پوره کړل شي.

په عمومي ډول د کورنۍ غړي ستاسو د بیمې په پلان کې د یوه اضافي لګښت په بدل کې د متکي وګړو یا (dependents) په حیث درګډېدلی شي.

بیمه په دې مانا نه ده چې ټول طبي خدمات وړیا دي. تاسو باید پر خپل صحي پلان وپوهېږئ او پر دې هم پوه شئ چې څه وخت شریکي ادایني یا له تخفیف سره ادایني اړینې دي.

که چېرې یو کارفرما صحي یا بله بیمه نه وړاندې کوي، تاسو کولی شئ چې د بیمې "تبادلې" له لارې یو پلان وپېرئ.

# Slide 50

د درغلۍ څخه باخبره اوسئ چیرې چې یو څوک د یوې رسمي دولتي ادارې د هویت درغلنه کوي. د متحده ایالاتو د حکومت ټول بریښنالیکونه په gov. پای ته رسیږي.
ترټولو عامې درغلۍ د ټولنیزې امنیتي ادارې له ادرسه د ایمیل کولو او یا ټلیفون کولو پواسطه ترسره کیږي.
باید له ډیر احتیاط کار واخلئ کله چې تاسو یوې داسې اړیکې ته ځواب ورکوئ چې خپل ځان رسمي شخص بولي. همدا راز، هیڅکله هم خپله ټولنیزه امنیتي شمیره په مبایل کې له بل چاسره مه شریکوئ چې تاسو په خپله له هغوی سره د تایید شوو لارو څخه اړیکه نوې ترسره کړې.

د مربوطه اجنسیو او د هغه څه په اړه چې هغوی یې ترسره کوي، ځان بلد کړئ ترڅو تاسو د درغلۍ قرباني نشئ.

د غلطو معلوماتو، ناسمو مشورو، او غیر ضروري اندیښنو څخه د مخنیوي لپاره، په هغو معلوماتو اعتبار مه کوئ چې تاسو د متحده ایالاتو حکومتي ویب پاڼو او/یا د مهاجرت وړ مسلکي اشخاصو له لوري تصدیق کولی نشئ.

ملګري او کورنۍ ممکن ښه موخه ولري، مګر ډیری وختونه د کډوالۍ په قوانینو باندې نه پوهیږي یا کیدای شي په مختلفو شرایطو کې وي چې ستاسو د LPR وضعیت په پرتله مختلف شرایط لري. زموږ ټیم په منظم ډول د هغو خلکو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي چې د دوی د حالت په اړه غلط معلومات ورکړل شوي وي.
نورو خلکو ته د کډوالۍ/مهاجرت اړوند مشورې مه ورکوئ، حتی که تاسو د خپلو معلوماتو کره توب په اړه ډاډه هم یاست. د هغوی حالت شاید ستاسو د حالت سره توپیر ولري او ستاسو مشوره ممکن هغوی ته صدق ونکړي.

# Slide 52

د انګلیسي کلمې lawyer او attorney دواړه د وکیل لپاره کارول کیږي. یوازې هغه وکیلان کولی شي چې حقوقي کارونه پر مخ بوځي چې د **متحده ایالاتو څخه د وکالت جواز** ولري.

د کډوالۍ اړوند پوښتنو لپاره تاسو ممکن د کډوالۍ وکیل ته اړتیا ولرئ. د کډوالۍ وکیل هغه شخص دی چې د متحده ایالاتو د کډوالۍ قانون متخصص واوسي. هغه ممکن خپل شخصي دفتر ولري او یا ممکن په یوه حقوقي سازمان کې لکه فراګمون او یا کوم بل سازمان کې چې قانوني او انتفاعي یا خیریه وي دنده تر سره کړي. ځیني غیر انتفاعي شرکتونه ممکن د عاید محدودیت ولري چې څوک مرسته کولی شي او ممکن د کډوالۍ مسلو کې د مرستې لپاره د کارمندانو لپاره معتبر استازي ولري. مثل شوي استازي وکیلان ندي، مګر د مهاجرینو استازیتوب کولو وړ دي. تاسو کولی شئ په دې لینک کې د ټولو پیژندل شویو فعالو سازمانونو او د دوی د اعتبار وړ استازو لیست ومومئ: [https://www.justice.gov/eoir/recognized-organizations-and-accredited-representatives-roster-state-and-city](https://www.justice.gov/eoir/recognized-organizations-and-accredited-representatives-roster-state-and-city)

د عدلیې وزارت د مهاجرت د وکیلانو لیست ساتي چې د ډسپلین سره مخ شوي او د قانون پلي کولو څخه منع شوي دي. ستاسو د کډوالۍ وکیل باید په دې لیست کې نه وي: [https://www.justice.gov/eoir/list-of-currently-disciplined-practitioners](https://www.justice.gov/eoir/list-of-currently-disciplined-practitioners)

ددې سربیره، د وکیلانو بیلابیل ډولونه شتون لري چې تاسو اړتیا لرئ په متحده ایالاتو کې د نورو قانوني مسلو لپاره یا د شخړې په صورت کې مشوره وکړئ. د مثال په توګه، تاسو ممکن یو وکیل ته اړتیا ولرئ چې په ځانګړو شرایطو کې د کورنۍ یا کارموندني قانون کې تخصص ولري. ځکه چې د متحده ایالاتو د قانون ساحې ډیرې وختونه خورا تخصص لري، یو وکیل چې په یو ډول قانون کې تخصص لري ممکن د نورو قانوني مسلو په اړه ښه مشوره نه وي ورکړي.د متحده ایالاتو ځیني لوی کارګمارونکي د کارموندنې ګټې په توګه قانوني مرستې ته د لاسرسي وړاندیز کوي، نو دا د مرستې لپاره ستاسو د ګمارونکي سره د کتلو ارزښت لري.